یه زړۀ کورئے دلته به کل نۀ سپړے



Download from:aghalibrary.cm

رحمت شاه سائل

یه زړۀ ګورئے
دلته به ګل
نۀ سپرے

رحمت شاه سائل

Download from:aghalibrary.cm

ټول حقونه دَ مصنف په حق کښ محفوظ دی

د کتاب نوم:	یه زړۀ ګورئے دلته به ګل نۀ سپړے
مصنف:	رحمت شاه سائل
وړومبے ایډیشن:	۲۰۱۳ء
شمیر:	دوه زره (۲۰۰۰)
ټائټل او کمپوز:	رحمت دیوان 03457030719
بیه:	۱۵۰ (یو سل او پنځوس) روپۍ
خورونکی:	پښتو ادبی جرګه ملاکنډ
د چاپ ځائے:	دانش خپرندویه ټولنه

د سائل فون نمبرونه:

0300-9051925
0346-9302380

درکونه:

1. یونیورسټی بک ایجنسی خیبر بازار، پېښور.
2. پښتو ادبی جرګه ملاکنډ.
3. سلیم جالوان، حمیدالله حمید، نوید جمال، افتخار مارکیټ درګئ بازار، ملاکنډ ایجنسی.

Download from:aghalibrary.cm

؟

په دے قیامت کښ دَ قیامت قیامت خیالونو سره
خدایه په کومه کوخه لاړ شمه، کوځے ورانے دی

په دومره خلقو کښ دا دومره تنهائی ولے ده؟
لکه چه زړونه وران دی، ټولے تماشے ورانے دی

ترڼون

دَ ډاکټر اسرار په نوم

زهٔ دَ خپل دے کتاب، دَ خوګ روح د خوبونو نغمے
ستا روح او ستا وجدان او ستا دَ مینے خیال ته سپارم
لکه غریبه پښتنه پیغله دهقانه پیغله
دَ سور پیزوان ارمان هر اوړی او هر کال ته سپارم

هر کال هر اوړے چه راځی نو وی سوکړے وهلے
زمونږ چیتر جوړ کړے فصل رانه اودوړوی
زمونږ دَ خاورو ختو جوړ دَ ارمانونو بُتکی
زمونږ دَ خیال مخکښ دلئے دلئے رااغورزوی

بیا مو دَ خیال "درخو" دَ سور پیزوان دَ خیال لیونئے
په درمندونو کښ بنګړو له کاریزے زبوی
کاریزے خرڅے کړی بنګړی پریږدی اوړهٔ پرے واخلی
کال په کال مونږ لوبوی دغسے واړهٔ غولوی

نو یه زما اسراره! ستا روح ته سلام کوومه
خو زهٔ چه ستا نوم ته دا سپور غوندے کتاب سپارم
ځان سره وایمه چه تا او کنه ځان غلووم
چه ستا ارمان له او کهٔ خپل ارمان له ګوتے شمارم

خو یو ګمان مې دَ یقین غوندے په زړهٔ کښ بل شی
چه کهٔ نن نهٔ وی نو صبا له به دا ورکه پښتو
هم دَ قانون ژبه وی، هم به دَ دفتر ژبه وی
هم به دَ نمر ژبه وی، هم به دَ سحر ژبه وی
هم به دَ خوار ژبه وی، هم به دَ افسر ژبه وی
دَ خوګو زړونو په پرهر کښ به دَ کر ژبه وی

زما او ستا خاوره به ګل په منجره وی صبا
هر مسافر ځلمے به راشی په وطن کښ به وی
سپور وربلونه به سمسور سمسور ګلونه ښکاری
ګودر، اختر، سپرلے، په هر تن او بدن کښ به وی

په هر طرف به دَ رنګونو بارانونه کیږی
مینه به ساه واخلی او زړونو ته به زړونه کیږی
دَ ترنم او تبسم دَ تصویرونو نه به
دَ مینے خوب ته دَ خیالونو الهامونه کیږی

ځکه خو زهٔ دَ خپل کتاب ترون زما اسراره!
ستا دَ پښتو پښتو خیالونو په نامهٔ کوومه
ستا دَ قام دَ هر بچی ارمان له ژبه ورکړم
نو ستا دَ ستړو سترګو غیږ کښ به دمه کوومه

❀❀❀

نوټ: ما په دوؤ بورډونو د یو راهنما تصویر په یو بازار کښ اولیدو. یو بورډ دَ یوے پارټئے وؤ دویم بورډ دَ بلے پارټئے. دا سړے په هغے بورډ کښ هم راهنما وؤ او په دے بورډ کښ هم راهنما.
د مخکښ پارټئے بوډر والا لا د دۀ تصویر نه وؤ وران کړے چه نوے پارټئے والا ئے د هغے نه غټ تصویر جوړ کړو او مخامخ ئے ورته اولګوؤ. نن صبا دَ بورډونو سیاست په عروج دے او بورډ جوړول دَ هر چا دَ وس خبره نۀ ده دَ جنډے ځائے بورډ اونیوؤ او دَ منشور ځائے نمائش.



بورډ

دا راهنما سړے په یو بازار کښ
په دوؤ بورډونو ښکاریدو خندیدو

سنجیدګی ئے وه په شکل خورۀ
داد ئے دَ سترګو څخیدو خندیدو

داد دَ دروغژن وؤ او کۀ دغه سړے
چه په ولارۀ کښ هم تلو خندیدو

یو بورډ دَ بل چا وؤ، بل بورډ دَ بل چا
نه ویریدو نه شرمیدو خندیدو

دا دوه بورډونه مخامخ یو بل ته
مونږ ته ټکی که نظریات ښائی

دا غورځ غورځ خنده رویه شونډے
مونږ ته ښادی، او که خیرات ښائی

په دے بورډ هم په هغے هم راهنما!!
خدایه دا څنګ راهنمایان راګډ شو

دلته هم غټ هلته د دے نه هم غټ
څه عجیبه پهلوانان راګډ شو

دۀ ته دِ خیر وی او د ده دَ مخه
خدایه زمَا دَ وطن خلکو ته خیر

خیرو خیرات دِ وی مدام زنده باد
حجاب خو سر اوخوړ څکلکو ته خیر

❀❀❀



کــه اوچ ســپیره خــزان وی کــه ګلونــه دَ شړشــم وی
موســم خــو چــه هــر څــه وی بــے جانانــه جهــنم وی

فن داسے چه حسین وی، پکښ زړۀ وی، پکښ روح وی
چه زړۀ وی، چه مئین وی، پکښ درد وی پکښ غم وی
فنکار غواړی تراشل غواړی، دَ خیال دَ روح په ګوتو
دَ هــر شــړل بــدل کــانړی دننــه یــو صــنم وی
زمــا دَ بنــړو اوښکے پــه ګلاب شــوندو کښ واخلــی
چــه دلتــه وی نــو اوښکے وی، چــه هلتــه وی شبنم وی
ژونــدون خپلــه دَ ځــان ســره راوړے هنګــامے دی
پــه یــو وخت بــه سندرے وی پــه بــل وخت بــه مــاتم وی
اے زړۀ حُسن سپرلے هم وی، خو دشت او بیابان هم
دَ ګل سورے بــه هــم وی، دَ لمبے سورے بــه هــم وی
غمونــه دَ جانــان لــوئے، کــه واړۀ وی ســړے وژنــی
نــه یــو دَ یــو نــه کــم وی، او نــه بــل دَ بــل نــه کــم وی

چــه ستوری او ســپوږمئے ســره همــدم او هــم قــدم وی
ســائله نــو دَ تــورے شــپے پــه غــولی بــه مــاتم وی

دا غوټئے خاندی هم حجاب هم لری، ځکه چه دا حجاب د دے خاورے دے
دا ګلاب وړل دی دَ جانان وربل له، ځکه چه دا ګلاب د دے خاورے هم دے

په دے کښ مونږ یو او زمونږ دَ ژوند زرګونه لیونئے قصے دی
دا کتاب ورک نه کړئے دَ ژوند لیونو، ځکه چه دا کتاب د دے خاورے دے

دے به کوی مونږ ته زمونږ دَ لیونو محبتونو لازوالـه قصے
دغه ساز خوند کوی په دے حجره کښ، ځکه چه دا رباب د دے خاورے دے

څوک ئے روښان ګڼړی او څوک تاریکے، خدایه خو چه زه ئے څنګه نه پیژنم
زه کهٔ ئے نه پیژنم هم زما زړهٔ ماته وائی، د دے سړی خطاب د دے خاورے دے

تاسو بے شکه دَ دانش دَ مدرسو نه فارغ شوی دانش مند خلک ئئے
زما کـه زړهٔ یـوه زره هم دے خو، کریاب ددے، دریاب د دے خاورے دے

دا پښتونخوا ده دَ پښتون وطن، پښتون وطن، ژوندون وطن دے
دلته وړوکے ثواب لویه ګناه یو برابر، ځکه چه دا ثواب د دے خاورے دے

بربنډول بـه غـواړی، تـول پـه ټولـه، هـر کـردار ددے افسـانے
سائله مونږ ئے په زور زیر پویه کړو، دا وینے وینے باب د دے خاورے دے

❀❀❀



مـا دِ لیـونے تصـویر پـه خپـل زړۀ کښ راوړے دے
سـتا دَ شـونډو اور مِ دَ غـزل زړۀ کښ راوړے دے

مالـــه مِ دَ زړۀ جـــونګړه تـــل رنـــړا رنـــړا ســـاتی
ستا دَ وریځو خال مِ داسے بل زړۀ کښ راوړے دے

مـنم دا بـه نـه وی سـتا دَ شـونډو دَ مسـکا پـه رنـګ
تـا دَ زړۀ دَ وینـو رنـګ دَ ګـل زړۀ کښ راوړے دے

ستا سترګے رښتونے دی خو ستا نـه چه واپس شمه
هـر ځـل مِ دَ ځـان سره یـو غـل زړۀ کښ راوړے دے

خـدئے خبـر چـه دغـه دار زمـا پـه نصـیب شـته کنـه
مـا مـرئے لـه سـتا دَ زلفـو ول زړۀ کښ راوړے دے

قتـل ئے کـه خیـر دے خـو دَ مینے دَ وعـدے نـه پـس
ستا **سائل** دَ ځان سره مقتـل زړۀ کښ راوړے دے



دا لـر و بـر دِ زیـروبم کـه سـاز تـرِ پیـدا کـۀ
دا زړونـه چـه درزیـږی یـو آواز تـرِ پیـدا کـۀ

پـه سترګو کښ بـه څو ګرځـوے سترې پیغامونـه
لمـبے تـرِ کـه پیـدا سـوز و ګـداز تـرِ پیـدا کـۀ
احسـاس دَ خـپلے میـنے او دَ خـپلے ویـنے راؤړۀ
خـو دی عـروج تـه اورسـوه نـاز تـرِ پیـدا کـۀ
کوشـیر کـۀ مـاتے ګـوتے، مـاتے مـتے دَ فکرونـو
وزرے دَ خیـالونو دَ پـرواز تـرِ پیـدا کـۀ
تـر څـو بـه مـونږ کـوؤ تجارتونـه دَ رازونـو
همـراز خپـل اولسـونه کـه او راز تـرِ پیـدا کـۀ
بـے مخـه بـے مروتـه شـو بـلا جهـان دَ مینـے
تـوتے سـترګے راتـولے کـه اعـزاز تـرِ پیـدا کـۀ

دروغ نشته که شته نو دَ رشتیا وجود تـرِ جوړ دے
سـائله انجـام مـه منـه اغـاز تـرِ پیـدا کـۀ

❀❀❀

احساس

څومره دَ لوئے وطن سړے ئے دَ لوئے قام سړے ئے
خو څه په لوګه تنده ژوند کړے څه ګمنام سړے ئے

ښکلا ئے ته دَ ژوند ، خو ژوند خو ستا نه کرکه کوی
نه خو دِ ځان پکښ بدنام کۀ، نه نیک نام سړے ئے

بل ته په خپو کښ پروت پیښے دَ شادوګانو کوے
ما خو آزاد هم کړے خو ته په زړۀ غلام سړے ئے

❀❀❀

مشرق او مغرب

دَ هجر تګے دے، په خپلو اوښکو مورِ تصویر دے
دَ پښتنے مینے تصویر دَ درده جوړ تصویر دے

دلته دَ فن دَ تصویر ژبه وی دَ مینے ژبه
دلته دَ حسن حاصل عشق دَ عشق نچوړ تصویر دے

دنیا دِ مونږ زاوال زدۀ مینو ته نه پسخوی
دا څومره تود تصویر دے، دغه څومره سوړ تصویر دے

❀❀❀

لکه تصویر چه دِ پوره جوړ کړمه وران دِ کړم
قاتل دَ مینے دَ خوبونو دَ جانان دِ کړم

لکه شبنم ټوله شپه رو رو پتا اووریدم
ګلابه داسے څنډ دِ راکۀ چه باران دِ کړم
داسے په منډه زړۀ ته راغلے ترِ په منډه لاړے
په کیفیت کښ دومره زر بدلون، حیران دِ کړم؟
هسے خو اولوستم زرګونو په لکونو خلکو
خو هیڅا اونه لوستم داسے یو داستان دِ کړم
لکه تازه پرهر دِ درد درد څړیکے څړیکے کړمه
لکه ریدے دِ دَ زړۀ داغ کړمه ارمان دِ کړم
حسن او مینه خو وجود لکه خوشبو نه لری
خدایه دا څه دَ نالیدلو ترجمان دِ کړم
لکه زما ستا هم زیړ رنګ په پسرلی کښ خوخ وی
خیر دے که تکه زیړه پانړه دَ خزان دِ کړم

ستا دَ منے جوګه ټکی **سائل** اونه موندل
په ټول جهان دِ کړمه خور داسے جهان دِ کړم

زهٔ یم په ژوند کښ ژوند ته، ژوند په ما کښ ماته حیران
دنیا به ماته وی حیرانه زهٔ دنیا ته حیران

ماته چه څوک هم مسیحا ښکاره شی غوڅ غوڅ مِ کړی
یو مسیحا نه کړم حیران، یم مسیحا ته حیران

هره سودا وائی ما واخلهٔ ما سودا واخلی
سودا به ماته وی حیرانه زهٔ سودا ته حیران

خلک دَ بل کلی بیګا او صبا نه پیژنی
زهٔ یم دَ خپل کلی بیګا ته او صبا ته حیران

باطن دَ هر چا دے ښکاره، ظاهر دَ هر چا دے پټ
څومره کمال ته رسیدلے، یم ریا ته حیران

هغه تجویز ستا دَ وژلو پیش کړو زور ئے ورکړو
سائله زهٔ یم ستا د لاسو دے پرقا ته حیران



لکه شبنم مِ یار دَ زړۀ په ګلاب لوبے کوی
اور ترے وانخلی دَ لمبو په کتاب لوبے کوی

د آئنے نه چه بهر شی، شی په زړۀ دننه
لَکه په لفظ کښ دَ مفهوم په حجاب لوبے کوی
دَ محبت دَ رواج رسم ته هم ژوند ووښی
په دائره کښ دَ ګناه او ثواب لوبے کوی
دَ سترګو هر سوال ته جواب، په سترګو شی وئیلے
خو جواب داسے چه په سوال و جواب لوبے کوی
څنګه مِ زر زر ټنګولے شی دَ زړۀ تارونه
څنګه مِ زر زر دَ زړګی په رباب لوبے کوی
تربیت غواړی دَ ترتیب دَ مینے هر یو رسم
هغه ماشوم دَ محبت په نصاب لوبے کوی

ستا په آواز پسے په دشتو په غرمو دے روان
تندے اخستے دے **سائل** په سراب لوبے کوی

یکم فروری ۲۰۱۲ء پیښور



ته که په رشتیا جانان زمائے ماته اوایه
دا به راته نن خامخا وائے ماته اوایه

تاله که ړومبے ګل دَ ړومبی پسرلی راوړمه
ګل که زما سوے رنګ به ستائے ماته اوایه

غواړم چه دِ سترګو ته هم زده کړمه پښتو ژبه
ته به پرے ړومبے ټکے څه وائے ماته اوایه

وائی چه وعده او توبه دواړهٔ ماتیدونکی وی
تهٔ که پښتنه دَ پښتونخوا ئے ماته اوایه

ما خو درله خپل زړهٔ دَ یو سوال سره راوړے دے
تهٔ که زما مینه په رشتیا ئے ماته اوایه

زۀ چه دِ میلمه کړمه دَ خپل زړۀ په جونګړه کښ
زۀ به څه یم تۀ خو به باچا ئے ماته اوایه

زۀ خپله ګواه یم چه ستا مړو سترګو وژلے یم
تۀ که خبر نه ئے بے ګناه ئے ماته اوایه

ولے دِ رنګ والوزی دَ مخ نه دَ دیدن په وخت
ولے په دیدن کښ وار خطا ئے ماته اوایه

راغلے دَ **سائل** اوښکے نن ستا دَ تبسم په مخ
دا تۀ په خندا که په ژړا ئے ماته اوایه

۲۸م جون ۲۰۱۱ء پیښور

چه وطن خپل نه وی آسمان پردے وی نمر پردے وی
چه خاوره خپله نه وی، شپه پردئے سحر پردے وی

ځان دَ سړی نه وی پردے، سړے دَ ځانه پردے
مازیګری پردی پردی وی مازیګر پردے وی

دا چه مو سر او تندے اونه لږی در په در یو
څنګه به اولږی چه سر پردے وی در پردے وی

خوب پکښ څنګه اوکړی، خوب به پکښ څه اوینی
دَ چا چه کټ لکه دَ شپے دَ مسافر پردے وی

مونږه حساس خلک، دَ څه عجب مسلک خلک یو
درد ئے زمونږ په زړۀ تیریږی او پرهر پردے وی

دَ څه عجب آسمان دَ لاندے زندګی تیروؤ
روژے زمونږه په نصیب کښ وی اختر پردے وی

وصـــال دَ نـــورو وی دَ هجـــر زهـــر مـــونږه ګوتـــو
دلـداری مـونږ تـه را پـه برښـه وی دلبـر پـردے وی

مینـــه خـــو لوبـــه ده پـــه خپـــل ســـر دَ بـــازئے تړلـــو
دَ مینے خیال به پکښ څه ځائے شی چه سر پردے وی

پښـتانۀ وائـی کـه غـر لـوئے وی پـه سـر لاره لـری
لار به پرے څنګه خپله جوړه کړو چه غر پردے وی

چـــه وی پـــردئے، دَ هنرونـــو دَ تخلیـــق ســـرچینے
پـه خپلـو ګوتـو کښ هنـر پـردے نظـر پـردے وی

خیال که ئے لوړ وی، دَ هستئے مورال ئے نه لوړیږی
دَ چـا چـه زهـن آزاد نـه وی، نـو جـوهر پـردے وی

ســړے بـــه اوغـــزوی خـــپے، دَ خپـــل ســـادره ســـره
خو خپے به څۀ د چا، شی خپلے چه سادر پردے وی

کور که وړوکے وی، که لوئے وی، چه وی خپل نو کور وی
خو دَ کوم کور نوم چه کنډر شی نو کنډر پردے وی

جنګ په پردی مسلک پردئے نظریـه نـه دے پـه کـار
سړے بـه څـه نـر او بـادر شـی چـه سنګر پـردے وی

په ډکیدو په تشیدو نه سړے کیږی سړے
سړے دَ خر نه اخوا څۀ وی چه اخور پردے وی

چه ناز پرے اوکړے یو وړوکے ټولے هم پوره دے
ناز په لښکر هم ممکن نه دے چه لښکر پردے وی

اشر غوبل هم وی دَ بل خو ښکاری خپل سړی ته
په ځان تاوان وی چه غوبل پردے اشر پردے وی

ستم ئے هم وی دَ ستائلو خو چه خپل جانان وی
سائله زړۀ هغلته چوی چه ستم ګر پردے وی

۲م فروری ۲۰۱۲ء پېښور

ستا په تصویر کښ ما، زما تصویر کښ تا ژړوی
دا مصور څوک دے، چه تا ژړوی ما ژړوی

دا خلک خپلو فن پارو له هم سزا ورکوی
دا خلک خپلو تصویرونو ته دنیا ژړوی

کۀ محبت نه وے سیوا به دَ وحشت نه څۀ وؤ
څو به دنیا مونګه دَ مینے په ګناه ژړوی

دلته کښ هیچا غم دَ درد په بیه هم رانه کۀ
ما دا بازار ژړوی، ما دغه سودا ژړوی

رامبیل چامبیل به یو، خو یو به دَ ګلاب نوکران
دا تصور به مو ټول عمر په بیا بیا ژړوی

فطرت په څومره توازن، دَ غم تهذیب عام کوی
ګل خندوی خو په شبنم دَ ګل خندا ژړوی

تویوی هره شپه رنړے اوښکے دَ ستورو په شان
هره ورځ هره شپه سپوږمئ خپله رنړا ژړوی

توتیے توتیے آئینے ستا دَ تصویرونو دنیا
بیګا صبا به دِ ټول عمر په ژړا ژړوی

لفظ چه دَ فن نه وی بهر **سائله** تا لټوی
لفظ چه په فن کښ شی روحونه په خندا ژړوی



سندره

دلتــه ســوزیږی مینــے
دلتــه قتلیــږی مینــے
یــه زړهٔ ګورئے دلتــه بــه ګل نــه سپړے

دلتــه ســیلئے دَ خــزان
الوزی هر ځائے دَ خندان
یــه زړهٔ ګورئے دلتــه بــه ګل نــه سپړے

دلتــه کښ ګلونــه دَ خوبونــو پــه ارمــان اوســی
دلتــه هــر طــرف تــه دَ ګلونــو قــاتلان اوســی

دلته دے هر تن لیونے
هر ګل او ګلشن لیونے
یــه زړهٔ ګورئے دلتــه بــه ګل نــه سپړے

دلتـــه دَ ارزو قتـــل او دلتـــه دَ ارمـــان قتـــل
دلتـه دے دَ هر حسرت، دَ هر څۀ نـه اسـان قتـل

دلته وی انسـان لیونے
دلته وی وجدان لیونے
یـه زړۀ ګـورئے دلتـه بـه ګـل نـه سـپړے

دا دنیـــا دنیـــا نـــه ده ځنګـــل دَ انســـانانو دے
مونږ پکښ سلګئ خورو راج و تـاج دَ ظالمـانو دے

یـــه زړۀ نادانـــه زمـــا
یـــه زړۀ جانانـــه زمـــا
یـه زړۀ ګـورئے دلتـه بـه ګـل نـه سـپړے

زړۀ خـو زنـدګی غـواړی **سـائله** درزیـدۀ غـواړی
زړۀ خـو لکـه ګـل وی خندیـدۀ او غوړیـدۀ غـواړی

دا چل ورته مه ښایه چه
داسے ورتـه مـه وایـه چه
یـه زړۀ ګـورئے دلتـه بـه ګـل نـه سـپړے



یادګیرنه

مونږ دَ منصور دَ جنون تا دَ ملا لار اونیوه
تا دَ ثواب مونږ دَ الفت دَ ګناه لار اونیوه

خلک خو اوس هم لارے نیسی خو پردو خلکو ته
دا تا په کومه خوشحالئے کښ زما لار اونیوه

❀❀❀

مقدمه

دَ نادانے پښتونخوا دَ غرونو اوښکے
یا چینے وی او یا بیا لکه سیندونه

کال په کال زمونږ نه وړی زمونږ کورونه
مونږ پریږدی سیرابوی پردی دشتونه

❀❀❀

دَ پښتونخوا سندره

نـور بـه دَ داغ پـه شـغله چـل دَ الوتـو زده کـوے
دَ پښـتونخوا ښـکليه + دَ پښـتونخوا ښـکليه

نـوره بـه زړۀ تـه فلسـفه دَ ليونـو زده کـوے
دَ پښـتونخوا ښـکليه + دَ پښـتونخوا ښـکليه

دَ پښتونخوا جماله ته دَ پښتونخوا دَ غرونو
هـم ئے غـرور هـم جـلال

دَ پښـتنو زړګيـه تـه دَ پښـتنو سـرونو
هـم ئے غـرور هـم جـلال

پـه پښـتنو زړونـو بـه چـل دَ دريـدو زده کـوے
دَ پښـتونخوا ښـکليه + دَ پښـتونخوا ښـکليه

پښتونخوا تاته مبارک شه لکه غيږ دَ ژوندون
اوس پـرے کـوه نازونـه

چه درنه هیر نه شی د دغے قصے نن او پرون
اوس پرے کوه نازونه

لکه دَ ګل به زړۀ چاؤدون په خندیدو زده کوے
دَ پښتونخوا ښکلیه + دَ پښتونخوا ښکلیه

دا خړے خاورے به په خپل سر بادول غواړی
دَ دے وطن په خاطر

دَ کانړی کانړی نه به سرۀ زر جوړول غواړی
دَ دے وطن په خاطر

دَ ژوند دَ دار په سر به چل دَ ګډیدو زده کوے
دَ پښتونخوا ښکلیه + دَ پښتونخوا ښکلیه

دَ پښتونخوا همه رنګونه او ګلونه ستا دی
راشه ملیارئے شه تۀ

دَ دے وطن واړۀ پُرکیفه موسمونه ستا دی
راشه ملیارئے شه تۀ

لکه دَ ګل به ژوند په څوکو دَ ازغو زده کوے
دَ پښتونخوا ښکلیه + دَ پښتونخوا ښکلیه

په دے وطن کښ به ښائست او مینه ګل او ګلشن
لکه سپرلے عام کوے

په زندګئے کښ به تصویر او تصور دَ وطن
لکه سپرلے عام کوے

خیال لمبول به دَ سپورمئ په پلوشو زده کوے
دَ پښتونخوا ښکلیه + دَ پښتونخوا ښکلیه

د دے جهان مخکښ به تهٔ هم ځان ته سیال وائے
په هسکه هسکه غږئے

خپل پسرلی به په سندرو دَ **سائل** ستائے
په هسکه هسکه غږئے

دَ جانان سترګو ته به هم ژبه پښتو زده کوے
دَ پښتونخوا ښکلیه + دَ پښتونخوا ښکلیه

❀❀❀

عزیر جان دَ مانیرئے

ځــه ګرځــه لیــونے لیــونے ورانــه لیونیــه
خــو دا کــوځے بــه نــه پریــد ے جانانــه لیونیــه
پــه د ے هوښــیارو خلکــو کښ نادانــه لیونیــه
مــونږ تــول رالیــوني کــۀ عزیــر جانــه لیونیــه

دَ میــنے دَ مســلک او دَ مکتــب دَ جنــون اورۀ
مــونږ هــم درســره خــلاص کــۀ دَ ګریوانــه لیونیــه
مونږ ټول دَ فکر و فن دَ تصویرونو په خیال پوئے کۀ
مــونږ ټولــو تــه کــۀ دا ګرانــه اســانه لیونیــه

هم دغه سودا ستا غوند ے سړی په سر کښ ښه ده
راګرځــه مــه دَ میــنے دَ ســودا نــه لیونیــه
کړنګیــږه او شــړنګیږه او غګیــږه روان اوســه
جــرس وی مــدام مخــکښ دَ کاروانــه لیونیــه

دَ ډیرو کانړو بوټو او ازغو نه تیریدل دی
ګامونه راچاپیر کړۀ دَ صحرا نه لیونیه
دَ مینے او وفا ننګ و غیرت مدعی تړۀ ئے
نیمګړے دے ژوند ژواک بغیر لتا نه لیونیه

تړۀ تخم دَ تصویر ئے، ستا شعور دَ ګلو کر دے
زما دَ هر تکل دَ زړۀ ارمانه لیونیه



زما په زړۀ کښ قید خیالونه کۀ آزاد راشه
فنکار ارمانه لکه ګل دَ یار دَ یاد راشه

دَ څړیکے څړیکے درد قصه څنګه کاغذ ته کړمه
زیات دَ پرهر نه مِ قلم کوی فریاد راشه

راشه خالونو له ترِ ترمه ترمه وینه یوسه
راشه تندے پخپله مات کۀ دَ فرهاد راشه

پتا دَ طمے په قیمت محبت نه خرڅوؤم
نه مِ دَ داد هوس شته نه غم دَ بائیداد راشه

بهر دَ زړۀ نه بلا لرے لرے اوګرځیدم
ما مِ دَ خپل زړۀ په انګنړ کښ کۀ آباد راشه

سائل به تا آخر په څومره زیارتونو غواړی
تۀ مِ زړګے، تۀ مِ جانان، تۀ مِ مراد راشه

❀❀❀

سندره

چرتـــه اودی، چرتـــه کښ ســرۀ چرتـــه کښ زیـــړ ګلونـــه
دَ پښـــتونخوا غـــارے لـــه وړم دَ بـــاجوړ ګلونـــه

زۀ دَ رنګونـــــو لیـــــونے زۀ دَ ګلونـــــو مئـــــین
مالـــه ئـــے تـــل راکـــړے ژونـــد مـــا دِ کـــړی مـــړ ګلونـــه

لکـــه امیـــل، لکـــه پـــه زلفـــو کښ قطـــار دَ جانـــان
چرتـــه پـــه دشـــتو کښ موســـکی چرتـــه پـــه زوړ ګلونـــه

چـــه شـــی ســـپرلے ټـــول ښائســـتونه پـــه مـــونږ وروی
مـــونږ کـــړی دَ خپلـــو لـــوړو غرونـــو پـــه شـــان لـــوړ ګلونـــه

ځـــم دَ بـــولان، او پیښـــور پـــه ښـــکلو زیـــرے کـــوؤم
مـــونږ تـــه کـــړۀ خـــدئے دَ بـــاجوړ ښـــکلی پـــه پـــړ ګلونـــه

لکــه ســازونه دَ مرغــو پــه آوازونــو کښ شــول
دَ فطرتونــو پــه رنګونــو کښ ککــړ ګلونــه

خدایــه بــاران اوکــړے پــه دے وطــن دَ رنــګ او رنــړا
چه دشت په دشت شی، لوړ پــه لوړ او خوړ پــه خوړ ګلونــه

مــونږ پــه خــالونو دَ لالونــو جــوارئے کــړی دی
دَ ازغــو ډک صــحی، خــودی زمــونږ دَ وړ ګلونــه

سپرلی بــه راشی څړګے څړګے څانګے څانګے بــه شی
ســائل کرلــی دَ جانــان دَ زړۀ پــه تــړ ګلونــه
۲۰۰۹ء

❀❀❀

فیصله

کرلہ وؤ دھقان روان
وګرڼیدو بر آسمان
دۀ ورتہ بر اوکتل
دا ئے ورتہ اووئیل
این کوے کۀ پین کوے
دا پتھے بہ شین کوے
داسے زۀ ھم وایمہ
ځوئے دَ پښتونخوا یمہ
دلتہ کښ څوک مری کۀ چوی
چوی دِ دَ چا زړۀ کۀ چوی
خاورہ زما خاورہ دہ
نوم بہ خامخا لری
دے چہ دَ پښتون وطن
نوم بہ پښتونخوا لری

❀❀❀

زۀ لیونے

خدایه په یو تن بدن کښ پروت جدا جدا یمه
یم شهید خو زۀ شهید دَ کومے کربلا یمه

څۀ په چل او ول مِ خلک پرِ کړی څۀ بے چله مړ
زۀ لیونے څۀ دَ لیونئے خاورے پیدا یمه

❀❀❀

تول پارسنګ

داسے جانان چه خوشبوئ ئے دَ الفته راځی
داسے جانان چه زما خواله بے منته راځی

په دروغژنه لوئئے ډیر خلک په بره لاړ شی
څوک چه وی درون تَلۀ ئے بره نه ځی ښکته راځی

❀❀❀

اولس جانان کۀ نو دَ ټول اولس جانان به شے
کۀ لږ پخپله زمکه اودریدے آسمان به شے

په تنهائئے کښ وی بے دره بے دیاره سړے
دَ زړونو کور کلی له راشه نو ودان به شے

دَ ژوند په شور کښ ځنے ځنے آوازونه اوره
کۀ ناست ئے پابسے کۀ پاڅیدے روان به شے

ستوری خالونه په تندو کۀ دَ وطن دَ ښکلو
تیارے دِ نشی پټولے چراغان به شے

دَ پردی سوری نه په خپلو سرو غرمو کښ ښه ئے
دلته به ډیر ګران ئے کۀ هلته شوے ارزان به شے

دَ خپل پرهر دَ درد دَ سرو ګلونو ژبه زده کۀ
ګل به پخپله شے دَ ګل دَ خاندان به شے

ماتول هیڅ نه دی مشکل دَ نفرتونو پولے
دَ مینے لار واخلۀ یقین به شے ایمان به شے

بیا به تمبیرې دَ پلکونو ګزارونه درنه
دَ ستم ګرو مینه اوکه نو سندان به شے

یا بنجارے شه یا ملنګ دَ پښتنو دَ کوڅو
سائله دا اعزاز حاصل کۀ شاه جهان به شے

۱۵م فروری ۲۰۱۲ء پېښور

لکه جانان دَ خپل وطن جمال په زړونو ګرځوؤ
لکه تصویر ئے دَ مخ خط او خال په زړونو ګرځوؤ

مونږ دَ جنون په دشتو ورک دَ محبت دوه لیونی
دَ خپل سپرلی خپلو ګلونو خیال په زړونو ګرځوؤ
مونږ به پرے ځانګو دار ته رسی کۀ دیدار ته دا قصه
دَ لیونو لونګینونو تال په زړونو ګرځوو
په چړ روانے دَ چینو سندرے څنګ شو هیرولے
د دے چینو چنار چنار جلال په زړونو ګرځوؤ
ټکوروؤ پرے تل سوری سوری زړګی په وینو سرۀ
لکه دسمالے دَ جانان دسمال په زړونو ګرځوؤ
مونږه په هیره هم یو بل هیر کړے نه دے چرے
لکه ارمان دَ یو او بل وصال په زړونو ګرځوؤ

ځی دَ عروج په طرف تلونکی دی **سائل** او جانان
دَ لازاوالـه رونړ تخلیق کمال په زړونو ګرځوؤ

❀❀❀

دَ ګل په شوندو چه دَ اوښکو باران نه پیژنی
سپرلے څۀ پیژنی چه سوے دَ خزان نه پیژنی

څوک چه دَ ژوند او دَ جانان غم په نشو تیروی
دا سړے هر څوک چه دے ژوند او جانان نه پیژنی

یو تصور دے چه تصویر ئے چا جوړ کړے نه دے
څوک ئے تصویر کړی چه وجود دَ ارمان نه پیژنی

دا کوڅے داسے دی چه ورک ورک ګوټ پیرونه لری
دلته کښ هر څوک هر څۀ پیژنی ځان نه پیژنی

دلته یقین او ګمان یو بل ته دوه مخ آئینے
دلته چه تیر اوخوری یقین او ګمان نه پیژنی

دلته ماشوم شی سړے، جوړ ورانوی، وران جوړوی
دلتــه چــه راشــی ســړے وران اوودان نــه پیژنــی

دلتــه ســینے شــی ســمندر پــکښ دنیــا ډوبــوی
دلتــه کښ هیڅــوک هــم ولاړ او روان نــه پیژنــی

ســائله ســتا دَ شــعر بنــړ لکــه مســکن دَ ښــکلو
خوبان خو هر څوک خوښوی خو خوبان نه پیژنی

ســائله ســتا دَ پرهرونــو وارثــان درډونــه
خلــک تــا پیژنــی خــو ســتا وارثــان نــه پیژنــی



سترگے وروړوه، راوړوه روان سپرلے
جانانه اودروه په زور جانان سپرلے

دوه تماشے دِ شی په دے بنړو زوړند ے اوښکے
خدایه رانښکے کړے په شبو باران سپرلے
دَ خپلو سترګو په خمار کښ مِ رااونغاړۀ زړۀ
چه زۀ ارمان شم دَ سپرلی زما ارمان سپرلے
دا یو موسم دے چه هر چا غوښتے دَ دے دَ پاره
چه غوټئے پیغلے کړی او هر ګلاب کړی ځوان سپرلے
خوشبو به څنګه څوک په ګل کښ بند یوانه ساتی
څوک به کړی څنګه په فطرت کښ بند یوان سپرلے
درته قسم خورم چه ما ځان له سپرلی غوښتی نه دی
تا له مِ غوښتے ستا دَ ګل شونډو په شان سپرلے
دا پښتونخوا ده دَ سپرلو دَ الفتونو کور دے
دلته سپرلے هم شی پښتون سپرلے افغان سپرلے

فن او تخلیق ګل او سپرلے **سائله** خوند خو کوی
چه ګل سپرلی ته وی حیران ګل ته حیران سپرلے

چه دَ پښتون سحر ته لارے نیسی
دا دَ بهار خبر ته لارے نیسی

دَ ښاپیرک خو نمر ته سترګے بریښی
څنګ به ختلی نمر ته لارے نیسی

پورے راپورے چه دَ زړۀ نه اوځی
څنګ به څوک دے نظر ته لارے نیسی

دوه لارے دوه ګودره یو مازیګر
سړے به کوم ګودر ته لارے نیسی

جانان چه کله دَ هوا مارغه شی
سړے به چرته ورته لارے نیسی

سړے شی څومره مړغیژن **سائله**
چه دَ ژوندون هنر ته لارے نیسی

❀❀❀

حیرانی

زۀ خو دِ مړ کړم چه دَ زړۀ نه مِ بهر ته لاړے
تۀ کۀ سپورمئ ته بره اوختے کۀ نمر ته لاړے

زمونږه دوه نصیبه دواړه کافران ووٚ په زړۀ
زۀ چرته لاړمه جانانه او تۀ چرته لاړے





مـا سـتا دَ غوڅـو شـونډو اور لیـدلے اور پیـژنم
مـا سـتا دَ حسـن بـلا زور لیـدلے زور پیـژنم

دَ سترګو زخـم جوړیـدۀ نښـه نـه وی جوړ دِ نـه شـی
زۀ دَ دے سـترګو زخـم پیـژنم ټکـور پیـژنم
زۀ پـه زرګونـو پـه لکونـو لیونـو نښـکلو کښ
دَ خپلـو سـترو بـے قـرارو سـترګو تـور پیـژنم
زۀ دَ جهان په شور ماشور او طوفانی سیلئے کښ
سـتا دَ قـدم نښکالو او سـتا دَ بنګړو شـور پیژنم
دلتـه یـوازے دَ غرمـو نـه سـوری لـرے نـه دی
زۀ سـتا دَ سـوز پـه بیابـان کښ ډیر څۀ نـور پیژنم
دا میخانـه کـۀ قیدخانـه ده، دا سـاقی کـۀ قیـدی
دلتـه جامونـه شـته هـم ډک هـم ئے نسـکور پیژنم

زۀ خـو **سـائل** یـم دَ لفظونـو پـه معنـو پـوهیږم
زۀ ټـوقے پیـژنم تنـز پیـژنم پیغـور پیـژنم



سندره

دَ ګل میرو سمسور سپرلی دِ راته اوپسخول
جانانه ستا دَ رالیګلی ګل مننه کوؤم

دَ زړۀ داغونه مِ دِ څۀ په هنر اوتخنول
جانانه ستا دَ رالیګلی ګل مننه کوؤم

داسے به دے دنیا کښ څۀ دی یاره
چه په دے ګل کښ نه دی
کوم دَ دے ټول وطن خواګۀ دی یاره
چه دے ګل کښ نه دی

دَ فکر واړه ګلالی دِ راته اوخندول
جانانه ستا دَ رالیګلی ګل مننه کوؤم

په هر یو رنګ کښ ئے دنیا وینمه
ګل دِ راکړے کۀ دنیا دَ مینے
په هره پانړۀ کښ ئے تا وینمه
ګل دِ راکړے کۀ دنیا دَ مینے

چه ستا دَ مخ څومره رنګونه وؤ رااو دِ سپارل
جانانه ستا دَ رالیګلی ګل مننه کوؤم

ستا دَ ګل هر یو رنګ او هره رنړا
زما په سترګو کښ ده
ستا دَ ګل هره خوشبو هره خندا
زما په سترګو کښ ده

مانه دِ ټول دَ نادانئے خوبونه اوتختول
جانانه ستا دَ رالیګلی ګل مننه کوؤم

ستا دَ **سائل**، دَ اختر هر انتظار
د دغے ګل تماشه
هر انتظار دَ هر اختر انتظار
د دغے ګل تماشه

څومره خواګۀ چه د په لاس کښ وؤ رااودِ ببنبل
جانانه ستا دَ رالیګلی ګل مننه کوؤم



دَ چا چه زمکه نه وی پاس آسمان ترِ هم پردے وی
نمر او سپوږمئ ترِ هم پردی وی ځان ترِ هم پردے وی

نه څوک سحر شی خپل ګنړلے نه جانان مازیګر
دَ خپلو اوښکو په شیبو باران ترِ هم پردے وي
سړے دَ چا سره جزبے شریکولے نه شی
پخپل زړګی دننه هر ارمان ترِ هم پردے وی
هیڅ تعین کولے نه شی دَ هستئ د وجود
وی په جهان کښ خو خپل ټول جهان ترِ هم پردے وی
لکه دَ للمے دهقان خپل سپرلی ته نه شی کتے
سپرلے خو خود وی ترِ پردے خزان ترِ هم پردے وی
لکه غلام خامار دَ شک دَ بیمارئے خوری سړے
یقین ئے خوالہ نه راځی ګمان ترِ هم پردے وی

اکثر پخپل زړۂ کښ پشان دَ مسافر او سیږی
خپل زړۂ هم خپل نه ګنړی خپل جانان ترِ هم پردے وی

❀❀❀

زۀ چه تر څو دَ دغے یو فکر په بام ولاړ یم
زۀ به په یو سر هم په مثل دَ ټول قام ولاړ یم

زۀ چتے نه یم چه هر ښاخ ته به ټوپونه وهم
زۀ کۀ مړ هم وؤم بیا به هم په خپل مقام ولاړ یم

دا تۀ آخر زما دَ نوم نه ولے منډهے وهے
زۀ خو په هر ځائے کښ هم ستا په نوم بدنام ولاړ یم

ما څو پیړئے دَ ژوند په دغه لاره تګ کړے دے
اندام اندام یم، خو بیا هم اندام اندام ولاړ یم

خلک مِ وژنے دَ دروغو دَ لوئے په نشه
زۀ آئینے ته دَ رښتیاؤ دَ پیغام ولاړ یم

زۀ دَ خپل ځانه تاؤ زرګونه بلا ګانے وینم
زۀ خو ترمنځه دَ یو داسے فکر و فام ولاړ یم

ښکاری په ټول تن ئے دَ ټول راټول وطن زخمونه
په اوښکو لوند شم چه تصویر ته دَ باګرام ولاړ یم

ما غر په سم کړے دے کر دَ محبت دَ ګلو
ماته ناکام مه وائئے صرف ناتمام ولاړ یم

ستا اوچے شونډے به دَ سوال په مئیو تر نه کړمه
زما په لاس کښ دے دَ خپلو وینو جام ولاړ یم

زهٔ دَ خیبر په غر ولاړ یمه چاپیره چورلم
تاته قربان لاس په دعا لاس په سلام ولاړ یم

دَ پیر روښان په قیادت کښ دَ خوشحال لښکرے
دَ باچا خان مزار له ځی په احترام ولاړ یم

یو ښکلی بل ته وے تهٔ څهٔ کے او بل بل ته اوے
صبا به دا مال په **سائل** جوړ وی نیلام ولاړ یم

❀❀❀



دَ تخلیـــق دَ پســـرلو هنـــر پـــه کـــار دے
پـــه زړګـــو کښ دَ ګلونـــو کـــر پـــه کـــار دے

بے زنځیره ژوند پـه هر حال کښ وحشت دے
دَ زړګـــی نـــادان لـــه یـــو دلبـــر پـــه کـــار دے

دَ پرهـــر دَ درد احســـاس بـــه عـــام کـــول وی
دَ هـر چـا پـه زړۀ کښ یـو پرهـر پـه کـار دے

ســـتا دَ زلفـــو دَ ســـائے پـــه یـــاد ژونـــدے یـــم
پـه دے دشت کښ ترقیدلے نمر پـه کـار دے

مـــونږ پـــه بـــل منـــو دَ ژونـــد صـــدا قتونه
پـه خپل ځان باندے خو هم باور پـه کـار دے

مونږ خو دا ورانے خاموشے کوڅے وژنی
دلته څۀ خو دَ ژوند شور و شر په کار دے

زلزلے مِ ټکاؤ شوی زړۀ لـه غـوارم
ستا دَ سترګو تندریز نظر په کار دے

څومره ډیر خیالونه زړۀ ته دی راغلی
دے کاوران له چرته رؤ ګودر په کار دے

زړونه ډیر تنګ شو نعرے وهی سائله
شپه اوګده شوله بلا سحر په کار دے

۲، ۲، ۲۰۱۱ء
پېښور سحر اتۀ بجے

چـــه دَ رنګونـــو دَ لمبـــو ئـــے جـــامے کـــولے
هغـه ګـل څـۀ شـو چـه دَ زړۀ داغ ئـے شـغلے کـولے

هغه سندرے په هغو شونډو خاموش ولے شوے
چـه ورتـه مـونږ لکـه مـرغئے پـه غنـو شـپے کـولے
خـدئے زده دَ هغـے مـخ نـه هغـه حسـن چرتـه لاړو
مـونږ چـه بـه هـر چاتـه دَ کـوم حسـن قصـے کـولے
جانانه اوس دِ سترګے هغه کـار او ښکار نـه کـوی
زمـا پـه سـترګو خـو بـه سـتا سـترګو حملـے کـولے
چه ستا دَ غم او خپل جنون سره به ستا پـه کوڅـه
کلـه درتلـم زمـونږ بـه خلکـو تماشـے کـولے
ملـوکے دا دِ پـه خـال څـۀ او پـه جبـین څـۀ اوشـو
خـال خـو بـه سـتا لکـه دَ سـتورو پلوشـے کـولے
سپرلے به هم راتۀ ستا ګل یاد بـه ئے هم راوسـتۀ
لکـه ګـلاب بـه مِ دَ زړۀ زخمونـو خـولے کـولے

پـه چغـو چغـو پـه هغـے وخـت پسـے اوژاړمـه
ستا دَ بنګړو په شړنګ به ستا **سائل** ټپے کولے

❀❀❀

ماتــه دا نصــیحت کــړے باچــا خــان دے
څوک چه خپلـه ژبـه ورکـۀ کـړی نـو ورک شـی
دغـه ګفـت دَ داسے پـاک ملنـګ دَ خـولے دے
څوک چه خپلـه ژبـه سپکه ګنـړی سـپک شـی

کـۀ پښـتون ځان پـه خپـل کور شته کـول غـواړی
نښـه بـه دا وی چـه پـه خپلـه ژبـه کلـک شـی
څـوک چـه قـام لـری وی ژبـه ئـے غلامـه
کـۀ څـوک دا درک اونـه کـړی بـے درک شـی

بـے دَ ژبـے قـام بـے وجـے جـوارګر وی
ژوند ژواک اوبائلی ځان اوبائلی هک پک شی
ژبـــه یـــو آواز دَ تولـــو پرګنـــو وی
پښـتانۀ وائـی چـه پینـډه پـه خانـک شـی

ژبـــه روح دے بـــدن بـــے دَ روح نـــه مـــړ وی
روح چـه راشـی تـن چټـک شـی او چابـک شـی
ژبـــه مینـــه ده تـــاریخ دے او کلتـــور دے
چـه دَ ژبـے څـوک مالـک شـی نـو ملـک شـی

وایـه څنـګ بـه پـکښ خپـل خیالونـه ځـائے شـی
چـه دَ زړۀ جـام پـه پـردو خیـالونو ډک شـی
صـبانے کـاروان بـه څنـګ منـزل تـه رسـی
پښـتانۀ کـۀ پـه شـپل ژونـد کښ نـازک شـی

اوس دَ هـــرے بیمـــارئے عـــلاج ممکـــن دے
خدئے دِ نـه کړی چه پښتون بیمار دَ شک شی
پښـــتونخوا بـــے دَ پښـــتونه ده نیمګـــړے
پـــه ســـندان وســـپنه جـــوړه پـــه ســـټک شـــی

دا خـــو فضـــل سمســـوریږی اے **ســـائله**
چـــه بادونـــه دَ انـــډک او دَ ســـوندک شـــی

❀❀❀

ستا دَ دلبر نظر نه پس هغه دلدار نظر
هیر به مِ نه شی ستا نرګس نرګس بیمار نظر

لکه شغله شغله مِ والوتو دَ زړۀ دَ داغه
وطن کۀ واړۀ خماری خمار خمار نظر

دَ محبت دَ هر یو رنګ غاړو تو موسم دے
جانانه تۀ دَ ګل نظر زۀ دَ بهار نظر

رنګ او رنړا په هره لار توتے توتے پراتۀ وؤ
قطره قطره پرے څخیدلے وؤ دَ یار نظر

ویخ مِ ساتی خوب ته مِ نه پریږدی شوګیر مِ ساتی
زما دَ خوګ زړۀ دَ پرهر هسے بیدار نظر

ښه شوه چه قتل ئے کړم ښه شوه چه تا هم اولیدم
ښه شوه چه نه دِ کۀ په سترګو کښ حصار نظر

په زړۀ مِ بار دِ وسوسو او تلوسو پروت دے
نن مِ لیدلے دَ جانان په بنړو بار نظر

کومے کوڅے ته به اودریږمه په دے کلی کښ
داسے به پټ دَ خلکو وړم په کومه لار نظر

تورو وریځو په شیبو شیبو رااووریږئے
په کنړاوۀ خپو به راځی په سر دَ دار نظر



چه مِ په ننګ ولاړ وؤ سیال ئے نه ؤو
چه بے ننګئے ته شو مثال ئے نه ؤو

هغے دلدار اوس دلبری کوله
په څنګ مِ واؤړیدو خو خیال ئے نه ؤو
وه به بے شکه چه قاتی دَ سړو
خو داسے ډیر قحط الرجال ئے نه ؤو
دلته ئے هیڅ نه خواړهٔ فال ئے کؤو
هلته ئے هر څهٔ خواړهٔ فال ئے نه ؤو
په مخ ئے لوبے هر یو رنګ کولے
خو هغه ژوند هغه جمال ئے نه ؤو
تندی ئے هغه رنړا نه کؤله
وریځے ئے هغه وے هلال ئے نه ؤو
نظر ئے مات مات او توتے توتے ؤو
بانړه ئے وؤ خو استقلال ئے نه ؤو

فن ئے وو ژوند او ژوند کمال دَ **سائل**
کمال ئے دا ؤ چه زاوال ئے نه ؤو

۱۲، ۲۰۱۲ء پېښور



په هغو زلفو کښ روان یمه کۀ شپے وی وی دِ
دَ هغو سترګو په رنړا ځم کۀ تیرے وی وی دِ

دَ جانان غګ اورم او ډاډ دَ وصال هم راکوی
کۀ دَ بیلتون په کور کښ غبرګے نغارے وی وی دِ
دَ هجر دشته ده او نمر مِ نیزوار دے په سر
چه دا یو سورے مِ په سر وی کۀ غرمے وی وی دِ
په لامبوزن جانان بلا بلا یقین دے زما
کۀ سمندر وی خونړے چپے چپے وی وی دِ
زۀ ورک د دے سترګو په داسے تماشو کښ ښه یم
د دے نه اخوا کۀ زرګونه تماشے وی وی دِ
زۀ دَ دے هجر سرے لمبے هم سرۀ ګلونه ګنړم
کۀ ګیر چاپیره رانه بلے سرے لمبے وی وی دِ

زما درخو شړنګ دَ بنګړو په لیچو مۀ بس کوۀ
ستا دَ **سائل** خپو کښ کۀ هر څو ذولنے وی وی دِ

۳۰م مارچ ۲۰۱۲ء

دعا دِ اوکړۀ کۀ دَ خولے نه دِ ښیرے اووتے
پورے راپورے مِ دَ زړۀ چرے چرے اووتے

پرون دِ اوتښتوو سور سالو دَ سر نه سیلئے
لکه دَ تندر مِ دَ سترګو نه لمبے اووتے

په رنګ کښ رنګ او په رنړا کښ رنړا پاتے نه وه
په ځان کښ زۀ نه وؤم چه تۀ دَ تماشے اووتے

تۀ چه تلے لاړے زه بائللے جواګر پاتے شوم
تپوس ئے مه کوه چه څنګه ورځے شپے اووتے

بیلتون دِ داسے په خوبونو زما لوبے اوکړے
لکه چه ستا دَ یاد دَ تاره مِ تسبے اووتے

مـــا بـــه دَ مـيـــنے دَ دنيـــا ويرانـــى نـــه ژړلـــه
خـــو دَ تصـــوير دَ تصـــور نـــه مِ جـــامے اووتـــے

پـــټ مِ پـــه زړهٔ کښ کـــړو دَ خپلـــو ارمـــانونو قاتـــل
کـــهٔ مِ دَ ســـترګو نـــه دَ اوښـــکو جنـــازے اووتـــے

بيګاه په خوب کښ د غرمه غرمه شوم تير په کوڅه
ښښـــنه غوا ړمـــه دَ خـــولے نـــه مِ نعـــرے اووتـــے

دَ هغـــو ســـترګو دَ خمـــار رنګونـــه نشـــته پـــکښ
ســـائله ســـتا دَ شـــاعرئے نـــه شـــرارے اووتـــے

۱۸، ۱، ۲۰۱۲ء پښور

نه سپرلی شته نه دَ ګلونو دَ باران مانبامی
چه زړونه وران پراتهٔ وی څنګ به شی ودان مانبامی

ما خو دَ خدایه په یوه دعا کښ غوښتی نه ؤو
خونړئے شپے خونخوارے ورځے قاتلان مانبامی

تصویر مِ ستا دَ تصور پکښ اونه خندؤو
وړی دی خوب دَ شوګیرونو دَ جهان مانبامی

دَ زړهٔ دنیا ده دَ الفت دَ جزبے ورانه پرته
نه دَ مجنون مانبامی شته نه دَ جانان مانبامی

څنګه مو زار کړهٔ دَ بے رحمه حادثو دَ سره
لکه خوبونه مانبامی، لکه خوبان مانبامی

لکه زمونږ دِ دَ چا نه شی ګوټ دَ زهرو ژوندون
لکه زمونږ دِ نه شی چاته دشمنان مانبامی

نصیبه څهٔ مو خیژوے تل په ډیرئے دَ آزار
تاله ترغه مو شو یاران، لکه یاران مانبامی

خپل بؤ بلا مازیګری مو ماتوی او خوری مو
لکه سپیرهٔ سپیرهٔ تیریږی په زندان مانبامی

سائله دا لا کوم آزار او کوم نظر واخستو
مونږ خو به هره ورځ کول جانان جانان مانبامی





دَ پښتونخوا دَ ژوند تصویر به دَ جانان په شان په کار وی
د دے تصویر رنګ به دَ مینے دَ ارمان په شان په کار وی

دَ دے تصویر سترګے به سرے خمارے، سرے سرے پښتنے سترګے وی
خو په دے سترګو کښ به هر یو نظر، دَ باچا خان په شان په کار وی

دَ پرهرونو په درد ونو کښ، کاواکو لیونو څړیکو له
ځانګو ځانګو، جوتے جوتے غیږ به، دَ مینے دَ درمان په شان په کار وی

مونږ لیونی دَ خپل وطن، دشتے میرے، غرمے غرمے دا مانے
زمونږ سندرو له به هم سرے میرے، دَ ګلستان په شان په کار وی

زمونږ په اوښکو کښ د نه وی، بے هسی دَ غلامئے دَ فریاد
زمونږه اوښکے به دَ خپل آسمان، دَ ګړ ځ ګروز دَ باران په شان په کار وی

دَ ټولو زړونو پرهرونه به نغښتل وی، دَ خپل خپل زړۀ په پرهر پرهر کښ
سپرلی دَ ټولو خو زمونږ رنګونه، به دَ خزان په شان په کار وی

زړونه به دومره لویوؤ کۀ څوک ترِ ځی بهر چه تلے ترِ نه شی
دَ هجر دا دشت به دَ مینے دَ زندان په شان په کار وی

دَ دے غر دے خوا مِ خړپوسے کړی، اخوا مِ جانان اوسیږی
یوه ټپه خو به دَ دے غر په سر، دَ یه قربان په شان په کار وی

چه دَ مالوچو خریدار پرے هم بولی کولے شی **سائله**
زمونږ یوسف خو به زمونږ دَ کنعان په شان په کار وی



سندره

دَ مینے هره لحظه
کۀ په لمبو کښ هم وی ګل غوړوی
دَ جانان هره ادا آخر په چغو سړے اوژړوی

دَ ګل ورینو مینے، څومره ډیر صبر انتظار غواړی
دَ لونګینو مینے، دَ انتظار ټالئے په دار غواړی
دلته مِ قتل هم کړی، دلته مِ نوے نوے اوځیګوی

زۀ لیونے دَ مینے، هغه دَ حسن هیڅ حساب نه لری
زما په روح کښ اوسی، دَ سترګو یو سوال ئے جواب نه لری
دا جنون دغه جمال، یو بل په څو ټالونو اوځنګوی

مونږ په ادا پوهیږو، ولے غرور دَ هیچا نه پیژنو
مونږ دَ وفا لیونی، په وفا مرو خو جفا نه پیژنو
مونږ تصویرونه دَ خیال، مونږ نه دِ هیڅوک بل څۀ نه جوړوی

لګ دَ **سائل** په زړۀ کښ، وخته دا یو تصویر زوړند پریږده
په دے لوټ شوی کور کښ، یوه اثره نیمه دَ ژوند پریږده
سائل به ژوند ورکوی، **سائل** دِ اوترقوی اوپرقوی

۲م اپریل ۲۰۱۲ء

زلفے دِ ولے ورانے ورانے کړے راتولے ئے کۀ
زما جذبے دَ پریشانے کړے راتولے ئے کۀ

خال دِ ریدے، مخ دِ ګلاب، شونډے دِ نور ګلونه
خورے دِ ډیرے ښکلا ګانے کړے راتولے ئے کۀ

کاسه دَ زړۀ، دَ سترګو غلا، جولئ د اوښکو ډکه
کوچیانو بیا کډے روانے کړے راتولے ئے کۀ

سترګے چه کوم لوری ته هم اړوی اور لګوی
لمبه لمبه دِ ګل دامانے کړے راتولے ئے کۀ

بنجاری زړۀ، لونګ رانجۀ، دنداسے څوک اخلی
خورے دِ چاته سودا ګانے کړے راتولے ئے کۀ

چرته دِ تلونکے دی دَ اوښکو لیونئ قافلے
سائله خلکو مینے ګرانے کړے راتولے ئے کۀ



تل مو سنګار کړی په درډونو پرهرونه
تل مو په درډونو کښ ساتلی بهارونه

کوم دَ هجر تږی له مِ شونډے پرے تر نۀ کړے
ډوبے په شبنم کښ مِ لمدے سترګے ګلونه
رنګ مِ کړل په وینو دَ خیالونو تصویرونه
او مِ موندل نوے زمکے نوی اسمانونه
ستا یو تبسم زما یوے اوښکے جانانه
څو زره سوالونه کړۀ څو زره جوابونه
نن په زلفو مۀ پاکوه اوښکے دَ خالونو
نۀ ښائی دَ ستورو په انګنړ کښ مانښامونه
هره ورځ مِ نوے تماشه ده جوړه کړے
هره ورځ مِ ګډ کړۀ خپل غزل ته حسرتونه
وړو چه جنازے دَ ارمانونو ادیرو ته
اوری دَ سندرو او سازونو بارانونه

وتی دی دَ شماره کۀ هر څو زمونږه څلی
بل دی په هر څلی دَ **سائل** دَ زړۀ داغونه

❀❀❀

زما دَ زړۀ دَ محبت دَ کلی خان جانان
زما جانان زما جانان، زما جانان جانان

زما په روح کښ دَ فطرت هسے مسکے ماشوم
زما دَ وینے شان په رګ رګ کښ روان جانان
لکه لمبه ئے بله کړے په زړګی ګرځوم
زۀ پویه کړے په مطلب یم دَ ارمان جانان
نن په مرئ کښ مِ دَ غریو په شان ۆ کلک نیولے
نن مِ دَ سترګو وریدو لکه باران جانان
یاد ئے رنړا رنړا ساتی زما دَ زړۀ جونګړه
خدایه ودان لرے زما ماه تابان جانان
لکه په سترګو کښ ئے تولے ده راتولے دنیا
څۀ به وی زړۀ نۀ دے دَ سر په بیعه ګران جانان
خوب په بلا او له سکون او قرار لا په بلا
زۀ اړولے یم په نوی امتحان جانان

ستوری سپورمئ مِ تولے شپه په سینه لوبے کوی
مینے ساتلے دَ **سائل** په سر اسمان جانان



ګلاب راته ګلاب ګلاب په مات ډنډر کتل
وؤ نن خوئے دَ شر په نظر هر نظر کتل

ما پریږده خو کۀ ځان ګورے زما نه تپوس اوکه
جانانه ما به مړ کړی ستا اوتر اوتر کتل

زما نه ئے خطا کړۀ زیر او زور دَ حجابونو
مشکل دی هغو سترګو ته په زیر و زور کتل

په سترګو کښ مو نۀ ځائیدے سترګے دَ یو بل
نن مونږ یو بل ته داسے په سحر سحر کتل

ستا سترګے خو اوس هم راته بلا بلا یادیږی
څۀ داسے ګرانی راغله چه ډبر ګران شو درکتل

په ما خو ما وے ښکے شو دَ ګل پانو بارانونه
ما دار څۀ لیدو تا راته دَ بام په سر کتل

رایاد ئے کړۀ ډیر ډیر لاله زارونه دَ خالونو
ما نن خپلو داغونو ته په خپل ځیګر کتل

ورک ورک شو په یو بل کښ کۀ ورک ورک شو دَ یو بل نه
ګودر ته ما ، کۀ ماته په حسرت ګودر کتل

هنر ئے زده کوؤ ورته دَ ژوند دَ تصویرونو
سائل ته ئے نن داسے په هنر هنر کتل



اے

څۀ خو رشتیا هم زده کۀ، څۀ ایمانداری هم زده کۀ
په دلبرئے یو ازے نه شی، دلداری هم زده کۀ

لکه سپرلے په غر په سمه او کۀ کر دَ ګلو
لکه جانان دَ ژوند دَ ګلو مالیاری هم زده کۀ

❀❀❀

آواز

وریځے بیا ګټان ګټان شوے تۀ ئے وینے کنه
بیا ئے دَ یو بل په شاه نن دَ پټیدو ورځ ده

دَ لیونو غرونو سرونو ته رااورسیدے
راشه پکښ دَ الوتو راالوتو ورځ ده

۱۱م مئ ۲۰۱۲ء

په ګل مئینو دَ ګلونو سحر چا لیدلے
نمر په شبنم کښ دَ جانان دَ نظر چا لیدلے

هر چا جوړ کړے یو تصویر دے دَ اختر او ګودر
دَ لیونو پیغلو اختر په ګودر چا لیدلے
سترګے دریاب دی، او کۀ سین، کۀ سمندر دَ جانان
د دغے لوئے خاموشئے شور و شر چا لیدلے
درزا دَ زړونو او هیبت دَ لیونو زلزلو
دَ چا په زړونو راپریوتے تندر چا لیدلے
دَ ګل دَ سرو شونډو سندرے دَ هر چا په شونډو
خو ګل دَ تندے نه زوړند په ډنډر چا لیدلے
چه دَ تخلیق دَ ازغو څوکے په زړګو راکاړی
په درد چه لوئے کړی وحشت داسے هنر چا لیدلے
دَ بریخ په دهار ژوبل، په ماتو پروغوځ دَ ستورو
رارغړیدلے زړۀ دَ زلفو په غر چا لیدلے

جانانه ستا په ورک آواز پسے راوتے **سائل**
دَ زړۀ دَ دشتے دَ غرمو نه بهر چا لیدلے

دَ بے قراره اضطراب نه تاله خوب نه درځي، ماته اطمينان نه کيږي
مينه سودا ده خو دَ زړۀ دَ درد، دَ زړو په دکان نه کيږي

تۀ خو بس يو ځل مينه اوکۀ او دَ هغے زړۀ په دشت کښ تمنا اوکړۀ
دا درته چا وئيل چه دلته کښ ګل، دَ خپلو اوښکو په باران نه کيږی
آسمان ته اوخيژه خو ګرانه دغه خپله زمکه هم درسره اوخيژوه
ځکه چه بے دَ خپلے خوارے زمکے، هيڅرته ګزران نه کيږی
چه دَ غوځ غوځ زړګی دَ درد څړيکے زخمی زخمی نعرے شی کله
ستا يو نظر به غواړی، نور په ټولو، سترګو دَ جهان نه کيږی
مونږ خو په تش تصور، تش خيال دَ چا هم نه اخلو ټوله دنيا
دا کوم منکر وے چه تصوير تصوير وی، سود پرے دَ جانان نه کيږی
دَ مينے لار دَ زړۀ تاوان، دَ سر تاوان دَ ځان تاوان غواړی خو
مئينان وائی چه په دے بيه کښ ګټه ده تاوان نه کيږی
دا خلک څوک دی چه دَ عشق دَ تخليقاتو سرچينے اوچوی
ژوند دَ الفت خو دَ ايجاد او دَ بارودو په ډيران نه کيږی

د دے جهان دَ ژوند قيمت څۀ دے په هره لحظه مرګ **سائله**
په باريکيو دَ احساس نه کيږی، په تصور او په وجدان نه کيږی

❀❀❀



دَ زړګی داغ مِ شو ریدے، سرے کنارے غواړی
ستا دَ سرو سرو ملالو، سترګو نظارے غواړی

اوس مِ دَ زړۂ هر وینے وینے پرهر ژبے کوی
خو دا به ستا دَ نظر ګل ګل شرارے غواړی

زما دَ زړۂ د دشت نه چرته لاړے چرته ورک شوے
زړۂ مِ په کوکو کوکو، تاپسے نعرے غواړی

دومره مودۂ ستا دَ ښیرو په مطلب نه پوهیدم
اوس زما زړۂ پخپله خپل ځان ته ښیرے غواړی

مونږ هم سندرے وئیل غواړو، مونږ هم مینے کوؤ
زمونږ دَ خیال دامانے هم ګل منجرے غواړی

جنج به دَ ستورو ، په ډولئے پسے لیګو دَ سپورمئے
دا بــه شــریک اتنــړ او غبــرګے نغــارے غــواړی

زمــا درخــو دَ ړومبنــی مابنــام ړومــبے دیــدن بــه
شونډے مسکئے، تندے تابان، زلفے خورے غواړی

دا پښتونخوا ده سپین ګلونه هم په وینو سرهٔ دی
جانــان زمــا نــه دَ رامبیــل چامبیــل ګجــرے غــواړی

چــه پښــتانهٔ دی کــهٔ پــه خپــل او کــهٔ بــل وطــن دی
ســائله ســتا نــه خبرلوســے فــن پــارے غــواړی

❀❀❀

سندره

زیړ ګلونه هم پکښ دَ سرو ګلو جامے کوی
دغســـے اختـــر زمـــونږ دَ کلـــو وی

داسے تماشے چه پسرلی ئے تماشے کوی
دغســـے اختـــر زمـــونږ دَ کلـــو وی

څـــۀ پـــه مســـتانه ځلمـــو
ښـکلے وی حجـرے حجـرے
څـــۀ پـــه رنګینـــه وړو
ښـــکلے وی کـــوڅے کـــوڅے

ســترګے دَ مئینـو دَ یـو بـل پـه مـخ حملـے کـوی
دغسے اختر زمونږ دَ کلی وی

هـــر څـــوک بـــے قـــراره زړۀ
پټ پـه خپـل ګوګل کښ کړی
هر څوک دَ خپـل ژونـد ارمـان
ورک پـه یـو او بـل کښ کړی

ستر گے پہ خندا خندا کښ یو بل تہ قصے کوی
دغسے اختر زمونږ دَ کلی وی

هر جبین رنړا رنړا
هر نظر سحر سحر
هره خولۂ خندا خندا
هر بشر دلبر دلبر

څومره چه داغونه دی په زړونو کښ شغلے کوی
دغسے اختر زمونږ دَ کلو وی

چرته په تالونو چه
پیغلے ځانگی شور کوی
سرے لوپټے الوزی
یه **سائله** اور کوی

اور کوی تندی دَ پیغلو سرے شونډے لمبے کوی
دغسے اختر زمونږ دَ کلو وی

❀❀❀

دا دَ دھقانے دعا لپہ دہ باران غواړی
زړۀ لہ بھار او دَ بھار ژوند لہ جانان غواړي

تمناګانے دَ ھر چا دَ ماشومانو شولے
ھر څوک پہ سر سایہ دَ امن دَ اسمان غواړی

سپرلے دِ ماتے کړی پہ ګلو دَ شبنم آئینے
دا خاورہ یو ځل دَ رنګونو چراغان غواړی

چہ کلہ کلہ دا زړۀ ډوبے خاموشئے ماتوی
دَ غرونو غاړے ھم تنزری ھم طوطیان غواړی

نشانہ چرے د دے سترګو خطا تلے نہ دہ
دا نہ خو شیش او نہ ټوپک او نہ دیدوان غواړی

نہ لالہ زار جوړول ګران دی نہ ګلشن جوړول
یو پہ زړۀ داغ بل زړۀ چاؤدون دَ ګل پہ شان غواړی

دشت مِ دَ خپـو او سـمندر مِ دَ سـینے لانـد ے کـۀ
ناممکن هیڅ نه دی خو یو پښتون ارمـان غـواړی

زۀ خو ئے شوم شوم خو په ما باند ے ئے سل رانغے
هغــه دَ ســترګو دَ ګټلــی جنــګ تــاوان غــواړی

خدایه دا ولے هر څوک غم دَ ځان ځانئے واخستو
هر څوک دَ خپـل خیـال لوبولـو لـه میـدان غـواړی

تــر تصــوره رســیدل دَ جانــان ټــوقے نــه دی
ســائله هــره لمحــه نــوے امتحــان غــواړی

حسن هغه وی چه دَ مینے په تصویر کښ خاندی
جانان هغه وی چه دَ خوږ زړۀ په تحریر کښ خاندی

حسن احساس دے چه تاودۀ لری، وجود نۀ لری
مینه جنون دے چه دَ زلفو په زنځیر کښ خاندی
خلک دَ دے دولت نه تاج او تاجداری ځاروی
جانان چه خاندی نو په سترګو دَ فقیر کښ خاندی
هر څوک چه ژاړی نو دَ خپل زړۀ تنهایئ کښ ژاړی
هر څوک چه خاندی نو دَ بل دَ زړۀ جاګیر کښ خاندی
زمونږ خیالونه دَ یو بل نه ورکیدۀ نۀ غواړی
زمونږ خوبونه دَ خوبونو په تعبیر کښ خاندی
دغسے سترګے به حسینے څنګه نۀ وی اخر
چه تر سحره دَ درډونو په شوګیر کښ خاندی
ستا دَ خبرو لیونتوب ستا دَ خبرو ځوانی
لکه جادو په خپل اثر په خپل تاثیر کښ خاندی

حسن یو راز دے دَ **سائل** دَ فن دَ خیال په زړۀ کښ
حسن به ستا، ستا په معنو او په تفسیر کښ خاندی

سندره

زۀ دَ اختر میاشت دَ جانان په مخ لیدل غواړمه
خدایــه اختــر راولــے
خدایــه اختــر راولــے

خپــل ارمانونــه پــه تــالونو ځنګــول غواړمــه
خدایــه اختــر راولــے
خدایــه اختــر راولــے

دَ یــار دَ یــاد پــه تــار لونــګ بنړمــه
غــاړے لــه نــوے لــونګین جــوړوؤم
پــکښ لړونــه رنــګ پــه رنــګ بنړمــه
هــر لــړئے ښــکلے او رنګــین جــوړوؤم

دَ چــا دَ میــنے لــولکی پــکښ بنــړل غواړمــه
خدایه اختر راولے
خدایه اختر راولے

مــا دغــه یــو جانــان جانــان اختــر تــه
بـــلا کلونـــه انتظـــار کـــړے دے
مــا پــه لوګــو مــا پــه لمبــو کښ دَ ژونــد
دَ خپل خیالی لالی دیدار کړے دے

دَ زړۀ ساتلے لالہ زار پرے ورشندل غواړمہ
خدایہ اختر راولے
خدایہ اختر راولے

ما دَ مئین یار دَ تصویر سترګو لہ
دَ څو رنګونو انتخاب کړے دے
یو مِ غانټول بل مِ ریدے راوړے
یو مِ ششتے بل مِ ګلاب کړے دے

زۀ ئے تصویر پہ خپلو ګوتو جوړول غواړمہ
خدایہ اختر راولے
خدایہ اختر راولے

زۀ دَ الفت دَ روایت زندګی
زۀ دَ درخو دَ لیونتوب سندرہ
زۀ دَ جانان دَ یو نظر صدقہ
زۀ دَ شوګیر سترګو دَ خوب سندرہ

زۀ دَ **سائل** جهان دوبار آبادول غواړمہ
خدایہ اختر راولے
خدایہ اختر راولے



ستر ګو مِ سوال او کـۀ جواب ئے راکـۀ
ګلاب ګلاب ئے کړم ګلاب ئے راکـۀ

ګل ئے په یو لمبه په بل لاس کښ وه
ولے اختیار دَ انتخاب ئے راکـۀ
کاڅے دَ ستر ګو ئے راوا ړولے
رنګ دَ خمار دَ میوناب ئے راکـۀ
ما ورته وے چه آدم خان به مِ کړے
هغه درخو شوله رباب ئے راکـۀ
ما پیژندے ستا بے مروته ستر ګے
ګناه مِ هیڅ نه وه عذاب ئے راکـۀ
تاته دَ خپل یو نظر څۀ پته وه
چه څومره توان او څومره تاب ئے راکـۀ

ما وے زۀ ځان ژوندے ساتل غوا ړمه
راغلۀ دَ خپل **سائل** کتاب ئے راکـۀ

۱، ۳، ۲۰۱۱ء

ما وے چہ څنګہ بہ ئے وے وئیل بلا ښکلے یم
ما وے دَ کوم ځائے ئے، وے زۂ دَ پښتونخوا ښکلے یم

ما وے کۂ زۂ نہ یم خطا نو تا رشتیا اونۂ وے
وے ئے دروغ مِ دِ شی زهر پہ رشتیا ښکلے یم

ما وے ځہ نن ښکلے صحی، ولے صبا بہ څۂ ئے
وے ئے یقین لرہ هم نن هم بہ صبا ښکلے یم

ما وے چہ دا دوکہ درکړے آئینے خو نۂ دہ
وے ئے چہ زۂ دَ مخ نہ زیاتہ پہ معنٰے ښکلے یم

ما وے خندا ښکلے وی چرتہ دِ ژړلی هم دی؟
وے پہ ژړا کښ خو دَ ښے خندا نہ لا ښکلے یم

ما وے سندرہ دِ وی خوښہ کۂ رباب دَ آدم
وے ئے چہ زۂ شمہ درخو لکہ لیلی ښکلے یم

ما وے غزل دَ **سائل** ښکلے وی کۂ تۂ ښکلے ئے
وے ئے دَ دغو آئینو نہ هم سیوا ښکلے یم

یوه خبره

دَ زړۀ درد ونه به دَ یو بل سره وړو او کۀ نه؟
دَ ژوند غمونه به په ژوند شریکوؤ او کۀ نه؟

پټ راته او ایه په غوګ کښ راته پټ او ایه
راته رشتیا او ایه مینه به کوؤ او کۀ نه؟



ابتداء

تۀ کۀ مِ دَ زړۀ کلی ته رالے زۀ به چرته ځم
دا زما زړګے چه مانه والے زۀ به چرته ځم

زۀ یمه ژوند ے دَ خپل زړګی په پرهرونو کښ
تا کۀ پرے کار او کړو دَ دسمالے زۀ به چرته ځم





دَ غـــزل خـــوب لـــه مِ دَ نـــوی ژونـــدون خیـــال راوړهٔ
زمـــا "درخـــو" چرتـــه پـــه ســـترګو کښ خـــو ســـوال راوړهٔ

نـــــن مِ والله پـــــه زړهٔ بـــــلا بـــــلا رااووریـــــدے
نـــــن لکـــــه غیـــــرو غشـــــے راشـــــه او وصـــــال راوړهٔ

کـــال پـــس انکـــار لـــه راغـــے، راغـــے او پـــه مخـــه لاړو
دا مِ جانـــــان مالـــــه تحفـــــه دَ نـــــوی کـــــال راوړهٔ

داغ مِ دَ زړهٔ دَ ریـــدی اونـــهٔ کـــړے شـــغلے محبـــوبے
تـــهٔ چـــه راځـــے نـــو خامخـــا پـــه زنـــه خـــال راوړهٔ

تـــا پرهـــر کـــړے زړهٔ مِ اوس هـــم وینـــه نـــهٔ بـــس کـــوی
دَ لـــوپټے ګـــل دِ رســـوا نـــهٔ کـــړی دســـمال راوړهٔ

زمـــا دَ خـــوږ ســـترګو دړدونـــه پـــکښ نغښـــتی یوســـه
اور دَ جمـــــال پـــــه اننګـــــو کښ دَ جـــــلال راوړهٔ

پـــاتے تـــرِ ســـتا دَ تصـــور تصـــویر نیمګـــړے نـــهٔ شـــی
دَ خپـــل **ســـائل** دَ هنـــر ګوتـــو لـــه کمـــال راوړهٔ



باران

درډ دَ انسان هم نۀ وؤ او خوږ دَ انسان هم نۀ وؤ
زړۀ او احساس هم نۀ وؤ او سوے دَ وجدان هم نۀ وؤ

مړ ئے نۀ کۀ یو کافر او یو مسلمان هم نۀ وؤ
اور چه مِ په کور وؤ لګیدلے باران هم نۀ وؤ

❀❀❀

اظهار

هغه الوتے رنګ ستا ساه بے ساه په زړۀ ګرځوؤم
ستا دَ زړۀ هغه لیونئے درزا په زړۀ ګرځوؤم

اوشوے مودے ګناه مِ دا ده چه هیریږے مِ نه
اوشوے مودے ستا دَ دیدن ګناه په زړۀ ګرځوؤم

❀❀❀

نۀ غواړم

درډ کـۀ راکـولے شے دوا بـه درنـه نـۀ غـواړم
تـل راتـه دروغ وایـه رشتیا بـه درنـه نـۀ غـواړم

هـره ورځ مِ یـو نـوے پرهـر پـه زړۀ کـوه او ځـه
کـار دَ محبـت دَ مسـیحا بـه درنـه نـۀ غـواړم

اوښکے مِ یو څو پـه تـرو سترګو کښ راواچـوۀ
دومره هم کۀ اوکړے نو خندا به درنه نۀ غواړم



چه دا دَ زړونو پیژندل به کوم انسان لـه ورځی
شوګیره ما اوکړه او خوب زما جانان له ورځی

ګلسـتانونه بـه د دے سترګو لیـدو لـه راځی
هغـه بـلا ښـکلے بـه ولـے ګلسـتان لـه ورځـی

سپورمئ مِ زړۀ کښ یاره ستا یادونه اولړزول
زړۀ مِ راډک شو ځکه اوښکے مِ ګریوان له ورځی

دَ زړۀ تیـرو لـه تـرِ دَ سـترګو رنړا ګـانے غـوارم
جانـان مِ لوبـو لـه دَ سـتورو چراغـان لـه ورځی

هغـه ډولـئے چـه دَ ارمـان پـه دغـه لار تیریـږی
آسمان به زمکے له کۀ زمکه به آسمان له ورځی

زړونـه مـو یـو دی قسـمتونه مـو جدا **سـائله**
پـه دے خبره خـو ارمـان زمـا ارمـان لـه ورځی

۹م اپریل ۲۰۱۲ء پښور



دَ زړۀ پــه ټولــو پرهرونــو کښ تقســیم ولاړ یــم
چرتــه ســالم ســالم ولاړ یــم چرتــه نــیم ولاړ یــم

لیــونے اوس هــم یــم خــو هغــه لیــونے نــۀ یمــه
حالاتو اوس په ما کښ کړے دے ترمیم ولاړ یم

عشــقه راځــه ډیــر پــه کچــه کــانړو دِ نــه تلمــه
دے دروازے تــه بــه تــر څــو لکــه یتــیم ولاړ یــم

ډیرو نادودو دِ زما دَ زړۀ کر سپے غــوڅے کړے
ولاړ خــو یــم خــو پــه مثــال لکــه دَ جــیم ولاړ یــم

خدئے زده چه دا څلے او دا منظر کوم یاد رابښی
دلتــه چــه راشــم ګــړئے نیمــه پــه تعظــیم ولاړ یــم

اوس دِ پــه پټــو پټــو ســترګو پــه کوڅــه تیریــږم
اوس چه دِ کوم بتکی تــه اودریــږم تسلیم ولاړ یم

لکــه پښــتون وطــن پــه یــو تــن کښ څلــور ټوټے یم
چرته **نوید**، چرته **حمید**، چرته **سلیم** ولاړ یم



لپه ئے ګل شوه دَ شبنم په خولۀ دعا غواړی
دَ خپل فنکار زړۀ دَ تصویر مخ له خندا غواړی

وسعت لری پښتنه مینه ولے حد نۀ لری
زړګی له درد غواړی او درد له مسیحا غواړی

دَ نن دَ خیال سترګے دَ مینے دَ جانان سترګے وی
حسن له وینے دَ زړۀ غواړی او رشتیا غواړی

حسن لمحه لمحه دَ نوی خیال جامے اغوندی
دا چه په هره انتها کښ ابتداء غواړی

دَ وعدے خپل سرور دَ وریت انتظار خپله نشه
بهانے خپل بیګاه له خپل نوے صبا غواړی

تۀ به دِ خپل ستم ته خپله هم زړۀ اونۀ نیسے
سائل هیڅ نۀ غواړی مغرور جانانه تا غواړی

❀❀❀

تصویر

ګلاب ګلاب خوشبو خوشبو بهار بهار تصویر
جانان جانان دلبر دلبر دلدار دلدار تصویر
خدئے خبر څوک زما دَ زړۂ صنم خانے له راؤړی
خمار خمار ژوندون ژوندون بیمار بیمار تصویر

لکه دَ سین کوی چې دَ دے تصویر سترګے
زما په زړۂ کوی حملے دَ دے تصویر سترګے
زۂ چه دَ کوم لوری ورګورمه راګوری راته
په احساساتو خوروی دَ زلفو سوری راته
دَ خاموشئے په مابنامونو کښ حصار تصویر
لکه دَ سوی بلبل زړۂ ګډ په چغار تصویر

دَ دے تصویر په مخ پرتے رنړے رنړے اوښکے
چه اوچو شوندو ته رارسی اودریدلے ښکاری
دَ نیم اودی حجاب پړونی ته ئے سرے کنارے
ښکلے خو ښکاری خو په دے انداز کښ ولے ښکاری

لکه پخپله چه کوی ځان له سنګار تصویر
لکه په غاړه کښ دَ خپلے غاړے هار تصویر

دغه تصویر چه نن څوک راؤړی نو صبا ئے پټ کړی
او په دریمه شپه واپس په هغه ځائے پروت وی
تصویر هغه وی دَ تصویر رنګونه هغه نۀ وی
سترګے ئے مړے وربل ئے خور وړے سیلئے پروت وی
لکه چه وژنی مِ زره نۀ کوی وار تصویر
خدایه چه هغه وؤ کۀ دا لکه شهکار تصویر

تصویر کۀ یو غم دے نو وړۀ راؤړه ئے دوه حیرانئے
فن ته مِ زړۀ کوی، کۀ زړۀ مِ بے جانانه ګنړی
زما دَ زړۀ صنم خانه ئے ده خالی ګنړلے
کنه ژوندون مِ بے مراده بے ارمانه ګنړی
چه دا تصویر دے دَ فن کار کۀ دے فنکار تصویر
سائله ستا نه جوړوی جوړے دَ کار تصویر

۲م اپریل ۲۰۱۲ء پېښور

خپل وطن او خپل اختر او ګران جانان دَ خپل وطن
خپل سحر او خپله زمکه خپل آسمان دَ خپل وطن

خپلے پولے خپل پتی او خپل غانټول او خپل شړشم
خپل سپرلے او خپل شینکے او خپل باران دَ خپل وطن

خپلے لارے خپلے کوڅے خپل منګی او خپل ګودر
خپلے سترګے خپل ښائست او خپل خوبان دَ خپل وطن

خپلے دشتے خپل غرونه او خپل غارمه او خپل سوری
خپلے جذبے خپل حسرت او خپل ارمان دَ خپل وطن

تورے تورے ډکے ډکے سترګے په رنجو تورے
بام او در سالو سالو یو لوئے جهان دَ خپل وطن

سړګے سړګے ګل ځوانئے او څانګے څانګے ګل پیغلے
سکنړ سکنړ ښاپیرۍ ګل ریحان دَ خپل وطن

هر څۀ ئے **سائله** په ترښو کښ هم خواګۀ وائی
تریخ خزان دَ خپل وطن او تریخ هجران دَ خپل وطن

ګل خو دَ ګل دَ لیونئے ځوانئے دَ خیال نوم دے
دَ زړۂ چاؤدون هنر پخپلہ دَ کمال نوم دے

مینے هر څوک کوی خو هر څوک مینہ نۂ پیژنی
وصال دَ هجر نوم دے، هجر دَ وصال نوم دے

رنړا دَ وینے تل زما دَ زړۂ دَ داغہ اخلی
زما دَ زړۂ داغ ستا دَ رونړ جبین دَ خال نوم دے

زلفے د پیچ و خم پہ مخ او لونګین پہ سپینہ
ځانګل دَ فکر او دَ خیال پکښ دَ ټال نوم دے

لکہ دسمالے مِ دَ زړۂ پہ پرهرونو لګی
دَ مسیحا نوم ستا دَ ګوتو دَ دسمال نوم دے

دَ چا دَ یاد خوشبو دَ ځان سره راؤړی **سائله**
سپرلے کۂ نوم دے دَ ګلونو دَ جمال نوم دے

❀❀❀

کۀ واؤرے پرے وریږی کۀ اورونه پرے وریږی
زما دَ وطن غرونه څۀ دی زړونه پرے وریږی

تا وے چرته زمونږ کلی ته هم راپیښه اوکۀ
کوڅے کۀ ئے څو ورانے دی ګلونه پرے وریږی

ښائست په پښتونخوا کښ کړے کر دَ ګلابونو
دَ اوښکو او دَ وینو بارانونه پرے وریږی

صبا له به دنیا راځی د دے خاورے لیدو له
آسمان پرے زرغونے کړی رنګونه پرے وریږی

موسم ورله تصویر دَ فن په ګوتو دے تراشلے
شوګیر ئے دے په سترګو کښ خوبونه پرے وریږی

دا دشتے به صبا له وی تک سرۀ او زیړ ګلونه
صبا له به **سائله** بهارونه پرے وریږی

۱۷م مارچ ۲۰۱۲ء پیښور

دَ مینے خیال دَ تهمتونو په باران اخلهٔ
کهٔ دنیا دوه ډلے شوه ډله دَ جانان اخلهٔ

لالیه ټکنړے غرمے تلی تندی سوزوی
کله نا کله خیر خبر دَ ګلستان اخلهٔ
په محلونو کښ ورکیږی دَ جونګړو خلک
چه تخلیق کړی وی فطرت هغه خوبان اخلهٔ
چه دَ کنډر کنډر زړګی نه دِ تیرے اوشړی
کهٔ مِ مینے بلا دَ خپل ماه تابان اخلهٔ
په سوداګانو کښ دَ زړونو ګټے چا کړی دی
دا ځنے ځنے سوداګانے دَ تاوان اخلهٔ
لارے دَ ژوند سوؤنه هم زرګونه هم کیدے شی
ته تر یوه لاره دَ خپل زړهٔ دَ ارمان اخلهٔ
عظیمے مینے په کچه پیکه خیالونو نهٔ شی
پکښ پخپله دَ خپل ځانه امتحان اخلهٔ

ښار ته به لاړ شے خو **سائله** څوک دِ اونهٔ ټکی
دَ ژوند خوبونه دَ دردونو په دکان اخلهٔ

❀❀❀

خال د ِ په ګلاب کښ څخیدلے وؤ سحر سحر
ما وئیل چه ولے چمن ښکلے وؤ سحر سحر

ما وے کۀ ګوګل مِ شته نو ولے پکښ زړۀ نشته
پوئے شوم چه هغه تا تښتولے وؤ سحر سحر
دا ښکلے دَ ګل ګل خوبه، چا راپاسولے وؤ
اور ئے ټول ګلشن ته لګولے وؤ سحر سحر
د ے فنکار غزل زما دَ مینے دَ تصویر په شان
ټول پښتون ژوندون جهان تراشلے وؤ سحر سحر
نن ئے په یو ګل راګیلولو روګی بوګی کړم
یو ارمان مو نن هم ریژولے وؤ سحر سحر
ستا نوم مِ په څوکو دَ تیره تیره ازغو ګله
پټ په زړۀ ښکارۀ ښکارۀ لیکلے وؤ سحر سحر
سر د ِ کړو ورټیټ دَ ګل دنیا د ِ راځنګزنه کړه
غر پرے ستا دَ زلفو نړیدلے وؤ سحر سحر

یه سپرلیه دا **سائل** او دا په حسن ورک مئین
چا لکه ریدے په زړۀ داغلے وؤ سحر سحر

❀❀❀

حسن دِ ګل ګل او غضب غضب کتل جانانه
مطلب دِ څۀ دے ورانول کۀ جوړول جانانه

ستا لونګین له مِ جولئے دَ ستورو ډکه راؤړۀ
اوس به په ګوتو دَ سپوږمئ غواړی بنړل جانانه

زما دِ هغه لیونی خویونه نۀ هیریږی
چه تندرونه به دِ سترګو پریښتل جانانه

غرمے غرمے دشتے مِ ډیرے دَ خپو لاندے کړلے
چه ستا یادونه راسره تلل جانانه

دَ محبت تصویر هیڅا مکمل کړے نۀ دے
لا پکښ نور دی ډیر رنګونه ځایول جانانه

مونږ خو دِ وړے ټول عمری په زړګی تاؤ دَ جبین
مونږ خو دِ ناست نه یو په سوری دَ وربل جانانه

سائل ډیر څۀ زده کړۀ خو یو پوئے شو په دغه هنر
ستا نازولی غم له سترګے تورول جانانه

❀❀❀

خبره نښه وه خو زما دَ کار خبره نه وه
دا خو په دے چه دا زما دَ یار خبره نه وه

چه دَ ګل ګل په شوندو ستا دَ شوندو ذکر نه وؤ
دا مِ دَ زړهٔ دَ لیونی بهار خبره نه وه
زما په ځائے خو چه نن تهٔ دَ میخانے وتے وے
نن خو تالان ګډ وؤ ساقی دَ وار خبره نه وه
خبرے ډیرے وے خو ډیرے دَ عنوانه لرے
منصور په دار وؤ دَ منصور دَ دار خبره نه وه
دَ اوسنو مینونه څومره بازاری شوه ژبه
مینه خو داسے دَ لنډی بازار خبره نه وه
ګیلے دَ مینے حل کوی په زړهٔ دننه خلک
دا خو څهٔ داسے دَ کوڅے او لار خبره نه وه
دَ پښتنو مئینو ژبے وی دَ سترګو ژبے
داسے په زور دَ چنچنړی اظهار خبره نه وه

تهٔ څهٔ خبر ئے چه جانانه په زړګی دَ **سائل**
دومره داغونه وؤ چه دا دَ شمار خبره نه وه

❀❀❀

دنیا یوه شوه خو زما نه پکښ ځان ورکیږی
هم رانه ځان ورکیږی هم رانه جانان ورکیږی

ستا دَ ښائست ګلاب به څنګ پائی په دے سکړه کښ
زما دَ اوښکو اوښکو سترګو نه باران ورکیږی

زهٔ ئے دَ ګوتو نه نیولے هسے نهٔ ګرځوؤم
ما نه په دے ښار کښ دَ ټول ژوندون ارمان ورکیږی

زما په سترګو کښ دَ دے کوڅو ریګونه بادکئے
زما دَ سترګو دَ خوبونو نه خوبان ورکیږی

داسے دَ ذات دَ ګټے غم بے کیفه کړی یو مونږ
حوصله هر چرته دَ مینے دَ تاوان ورکیږی

غوټے به ورکړم او سینه به پرے راپټه کړم خو
زما دَ ګوتو نه تارونه دَ ګریوان ورکیږی

دغه تیرے دی په هر حال کښ غوڅول **سائله**
کهٔ رنړا ګانے پکښ هر څو دَ امکان ورکیږی

۷م مئ ۲۰۱۲ء

زړۀ دِ کـــم کنـــه دَ زړۀ مـــراد دِ کـــړم
ودِ تـــړم کلـــک کنـــه آزاد دِ کـــړم

وے مِ هیـر مِ نـۀ کـړے راتـه وے وئیـل
کلـه مِ هیـر کـړے ئے چـه یـاد دِ کـړم

وے ئے زۀ خو ګل یم ستا په لاس کښ یم
نـۀ یمـه ماشـومه چـه بربـاد دِ کـړم

مـا پـه شـیرینئے کـۀ پـه درخـو نیسے
وایـه آدم خـان او کـۀ فرهـاد دِ کـړم

ورک بـه دِ کـړی دا پـردئے پـردئے کـوځے
مـۀ ځـه چـه پـه سـترګو کښ آبـاد دِ کـړم

راشه لکه ګل مِ شه په زلفو کښ
راشه چه دَ خپلو زلفو باد دِ کړم

دلته کۀ لمبے کوے خو خاندے به
بنه ئے کشمالے او کۀ شمشاد دِ کړم

وے مِ ستا دَ زلفو دام کښ ګیر شومه
وے ئے کۀ خفه ئے چه آزاد دِ کړم

تۀ خو یو کمال دَ بل دَ پاسه کړے
راشه چه سندره دَ هیواد دِ کړم

تۀ کۀ ئے **سائل** زۀ هم څۀ یمه بنه
او ایه زاری او کۀ فریاد دِ کړم

۲۲م اپریل ۲۰۱۲ء

موسم

لکــه بهــر چــه وی پــه زلفــو ځنګیــدلے موســم
لکـــه دننـــه مِ پـــه زړهٔ کښ چـــا وژلـــے موســـم

شبنم په شونډو دَ ګلاب اوښکے پـه مـخ دَ جانـان
دا ژړیــدلے دے موســم کــهٔ غوړیــدلے موســم



شپه

زړهٔ مِ نیــولے ووٴ پــه ســرهٔ لمبــه دَ بلــے ډیــوے
مــا تــر ســحره ســتا دَ حســن وظیفــه اوکړلــه

زما په تن تمامه شپه سرے غرغنډے بلیدے
ستا پـه لمبـه لمبـه یـادونو کښ مِ شـپه اوکړلـه

شبنم ټوله شپه ژړیږی پروت نهر دَ ګل په غیږ کښ
په خندا شی چه ځان اووینی سحر دَ ګل په غیږ کښ

تماشے په تماشو کښ، آئینے په آئینو کښ
سړے ډوب کړی دَ رنګونو سمندر دَ ګل په غیږ کښ

کیفیت دَ روح سپرلے شی، سپرلے روح دَ کیفیت شی
لیونے شی سپیلنے شی، هر نظر دَ ګل په غیږ کښ

په ما رنګ دَ لمبو توے کړی، ما ژوندے کړی ما زلمے کړی
ما لیدلے دے یو داسے جادوګر دَ ګل په غیږ کښ

دَ سپوږمئ په پلوشو ئے ټوله ټوله شپا لامبلی
راغے قرض ژوند ترِ غواړی، پریوت نمر دَ ګل په غیږ کښ

خدائے دِ اوکړی چه جانان وی، محبت وی او ارمان وی
خدائے دِ اوکړی چه سپرلے وی، هم اختر دَ ګل په غیږ کښ

سائل ځی مازیګری له دَ چینو او چنارونو
ورته کړے اشارے دی، خپل دلبر دَ ګل په غیږ کښ

اور دِ پـــه پـــانړه پـــل کـــړی دَ ګـــل
نـــور دِ ســـپرلے ســـنګار بـــدل کـــړی دَ ګـــل

کـــۀ څـــوک مـــرهم دَ غوڅـــو شـــونډو کـــوی
لمـــبے لمـــبے شـــونډے دِ ښـــکل کـــړی دَ ګـــل

خنـــدا کښ ژاړی پـــه ژړا کښ خانـــدی
دغـــه ادا بـــه مِ پاګـــل کـــړی دَ ګـــل

الـــوزه مـــۀ خـــو نـــه ړنـــګ بـــاد دَ خـــزان
مســـته ځـــوانی خـــاورے خجـــل کـــړی دَ ګـــل

نـــن مِ دَ دے ویـــرے ســـندره نـــۀ وے
چرتـــه غمـــژن بـــه چاپیرچـــل کـــړی دَ ګـــل

ارمانـــه نـــوم دَ رقیـــب ذکـــر دَ شـــیخ
هســـے پیکـــه پیکـــه محفـــل کـــړی دَ ګـــل

دَ ژونـــد پـــه هـــر رنـــګ کښ خبـــرے کـــوی
ســـائل چـــه نـــاز ادا غـــزل کـــړی دَ ګـــل

دا مینه خو سپورمئ ده چه وړیږی او زړیږی
دا جام دے دَ شرابو چه تشیږی او ډکیږی

دا روح مِ دَ زخمی لولکئ تنده ده ارمان دے
دَ یار دَ سوی یاد په ګل خوریږی او تولیږی
زهٔ دے مخ ته لوګیږم او لوګے ترِ لوګے کیږی
دا سترګے دی کهٔ شمعے چه سوزیږی او بلیږی
هم نن دَ دیدن شپه ده هر ګل بل ته غاړه وځی
هم دلته ژوند دَ مرګه دے، قتلیږی او خندیږی
اعجاز دِ په دے لارو دَ جانان جانان آواز دے
په دم او په قدم کښ سړے لوئیږی او پاځیږی
دا زمکه عجیبه ده زندګی پرے زرغونیږی
ګل دلته کښ غوړیږی او رژیږی او توکیږی

سائله ځنے شپے دِتر قیامته سحر نهٔ شی
یو اور داسے په کار وی چه مړکیږی او بلیږی

۸م مئ ۲۰۱۲ء

دَ زرک جمال کال
یوه دعا

نــن ده بیــا دَ جــولائے نیتمــه دویمــه
شــو پــوره دَ زرک جــان اولــنے کــال

خدایــه دا کلونــه ډیــر او بختــور کړے
چه رنګین وی لا د دے نه ورپسے کال

چــه زرک مِ دَ شــلمے پیــړئے ګــل دے
یویشتمه کړے په دۀ هر کال سپرلے کال

خدایه ژوند دَ سړیتوب ورته عطا کړے
چه هر کال ئے وی دَ ژوند دَ تماشے کال





لکه چه زهٔ یم، ستا په ما ولاړ نظر ته ولاړ
دا سے مے نمر په سر ولاړ دے یمه نمر ته ولاړ

جانان مِ هم ورک شو کوڅه ئے رانه هم ورکه شوه
اوس کلـه چرتـه یـم ولاړ او کلـه چرتـه ولاړ

لکه دَ بت مِ حیرانئ کړے سترګے وازے پاتے
لکـه دَ مـړی یـم تـالا والا ګـودر تـه ولاړ

خدایـه دَ خپـل دربـاره، خپـل دره مِ مـهٔ اوباسـه
زهٔ خو په ټول ژوند کښ هم نـهٔ یمـه هر در تـه ولاړ

دَ پښتنے مینے احساس ناستی ته پریښی نـهٔ یو
یو پـه دیـدن کښ دَ یـو بـل نـه بیرتـه بیرتـه ولاړ

ما دَ زړۀ درد چرے دَ زړۀ نه بهر پریښے نۀ دے
پـه رهګـذر نـۀ یمـه هـیڅ کلـه دلبـر تـه ولاړ

احساس مِ یوسی په هر وران کلی مِ اوګرځوی
چرتـه بُتکـی تـه یـم ولاړ، چرتـه کنډر تـه ولاړ

خبـر دِ هـم نـۀ کړم پـه ځـان زیـر و زبـر دِ کړمـه
لکـه دِ زیـر بـه ومـه سـتا دَ قامـت زور تـه ولاړ

پـه خپلـو سـترګو دَ پـردو سـترګو ګمـان کومـه
اوس چـه یـم کلـه نظـارے دَ پیښـور تـه ولاړ

چه نۀ ئے تـۀ، دَ **سائل** روح بـه وی روژه نیـولے
په کومو سترګو به یم میاشتے دَ اختر تـه ولاړ



ستر گے چه بیمارے شی نرگس شی لیونو
څوک خو ئے راټول کړی چه تس نس شی لیونو

بیا هم کۀ پریوځی نو په ستر گو کښ پریوځی
گل کۀ پانړے پانړے شی خس خس شی لیونو
څوک هم چه دَ ذات دَ کوره اوځی لیونے شی
شی خو لیونے خو د اولس شی لیونو
مینه چه بازار ته شی سودا ته شی ساه ورکړی
مینه چه تخلیق شی یو په لس شی لیونو
مات چه شی په چا دَ مهربانه نظر ستوری
هله تن بدن سنگ پارس شی لیونو
څۀ سوز خو لری چه اور دَ خپله ځانه اخلی
او سوزی دَ ځانه چه ققنس شی لیونو

ستر گو له مِ راشی دَ **سائل** دَ غزل اوښکے
وخت چه دَ یارانو دَ مجلس شی لیونو

۱۲م اکتوبر ۲۰۰۷ء

پـه ډیـره خاموشـئ کښ هـم ګویانـه دے جانـان
دَ ګـــل کـــۀ دَ غـــزل دَ خاندانـــه دے جانـــان

راتـول مِ دَ لفظونـو دَ معنـو پـه غیـر کښ نـۀ کـۀ
پـه خپـل ښائسـت کښ دا سے پریشانه دے جانـان
زړګـے مِ لا پـــه هـــره لار دَ قتـــل نـــه بـــور نیږی
ډیـــر لـــرے مِ دَ میـــنے د امکانـــه دے جانـــان
دَ هـر سړی یقـین پـه مینـه دا سے ټکنړے شـۀ
دَ میـنے پـه وطـن کښ بـے جانانـه دے جانـان
پـه دومره پښتونخوا کښ هیڅا ځائے پـه زړۀ ورنـۀ کـۀ
رالـــوتے دَ وږمـــے دَ ګلســـتانه دے جانـــان
سنګار ئے پـه جولئ دَ فکر و فـن کښ نـۀ ځائیږی
راغلـــے دَ فطـــرت دَ لامکانـــه دے جانـــان

یـوازے زۀ **سائل** لیـونے نـۀ یـم پـه دے ښار کښ
هـر څـوک چغـے وهـی چـه دَ ارمانـه دے جانـان

❀❀❀

الـــوتے لـــولکئ دی اشـــارے لیونیـــه
پـه لاسـو کښ ئے څـوک شـی رانیـوے لیونیـه

اے مـۀ وینـه پـه ویښـه دَ خوبـانو، خوبونـه
پـه غرونـو بـه دِ سـر کـړی لیـونے، لیونیـه
ړندے به دِ کړی ستر ګے چه ډیر ډیر ورته ګورے
بـے واکـه وی دَ سـتر ګو پلوشـے، لیونیـه
فطـرت چـه پـټ پټـونی پـه پټـو کښ کـوی
پاګـل بـه دے کـړی داسـے تماشـے، لیونیـه
رنګـین دی جـادو ګر دی دَ دامـانو ګلونـه
پـه چـل کښ بـه در پـورے کـړی لمبـے، لیونیـه
نۀ کانړے څوک راولی، نۀ څوک ګل دے کوځه کښ
تـر څـو بـه پـه سـر خـاورے بـادوے، لیونیـه

سـائله دی تصـویر جـوړول ګـران دَ جانـان
څـۀ کړښـے ورانـوے، څـۀ جـوړوے، لیونیـه

❀❀❀

بدن په زوړ قالب کښ نوی خیال ته چرته رسی
سرۂ چه دَ اوره نۂ شی تیر کمال ته چرته رسی

داغ په زړۂ ښکلے ښکاری، زړۂ په داغ دَ داغه ښکلے
خو دَ حسین جانان دَ زنے خال ته چرته رسی
په ورک جانان پسے کور کور کوڅه کوڅه لټول
چه بنجارے نۂ شی سړے وصال ته چرته رسی
سپرلے، ګلشن، ګل او ګلزار، حورے غلمان او جنت
دَ محبت دَ انتخاب جمال ته چرته رسی
دَ بوډۂ ټال په رنګ کښ ډوب سړے اسمان ته وړی خو
دَ لونګینو دَ لونګو ټال ته چرته رسی
مونږه بائیللے دے نظر زمونږه لاس واړۂ دی
دَ محبوبے دَ قلا لوړ دیوال ته چرته رسی

موسم کۂ شی شمال او جانانۂ جانانۂ
ولے **سائله** دَ وربل شمال ته چرته رسی

❀❀❀

زما نه خپل جانان وطن په خپل سحر کښ ورک شو
لکه چه ځان رانه په سترګو دَ دلبر کښ ورک شو

خال دِ پرے داغ جوړ کۀ، بنړو دِ پرے پرهر جوړ کۀ
زړۀ خو مِ اوس هم شته خو داغ مِ په پرهر کښ ورک شو
زما نظر او ستا تصویر اور دَ یو بل نه واخست
خدایه دا څۀ اوشو نظر مِ په نظر کښ ورک شو
مازیګرے راشی خاموش تیر شی په غرونو واوړی
شړنګ دَ بنګړو شړق د پائیزیبو په ګودر کښ ورک شی
ګل رالـه راوړئ کۀ ئے دے چرته پیدا کړی پکښ
رانه مات شوے یو ازغے دَ زړۀ په سر کښ ورک شو
ما دَ اور اور جذبو نه ډک بدن دَ مینے لرۀ
مانه زما دَ بے وسئ په سمندر کښ ورک شو

څومره بلا بلا خوبانو پرے دعوه لرله
هغه **سائل** دَ یو منکر جانان په در کښ ورک شو

❀❀❀

ټرون

تالــه ســحر دَ محبــت دَ ګــل پــه شــان غــواړم
ســتا پــه ړومبــی نظــر دَ ســرو ګلــو بــاران غــواړم

چرته غوټئے موسکئے او چرتــه ګلاب خور پــه خندا
زهٔ خــو ســپرلے هــم پــه مثــال دَ خپــل جانــان غــواړم

ډیــرے نارامــه ســیلئے الــوزی ســرتوره نــهٔ شــے
ملــوکے خیــر دِ دَ ښائســت دَ ګلســتان غــواړم

مــا پــه دے کلکــو زنځیرونــو بنــد پــه بنــد اوتــړهٔ
ځــان تــر قیامتــه ســتا پــه زلفــو بنــدیوان غــواړم

دَ محبــــت دَ ولولــــو دَ ســــمندر لهرونــــه
تــل ســتا دَ ســترګو دَ خمــار پــه دشــت روان غــواړم

چه تاله هره شپه ستا زمکے ته راځی لوبو له
ستوری سپوږمۍ دِ په انګړ کښ دَ آسمان غواړم

په دے جهان کښ به ګل ستا دَ روح اونۍ غوړیږی
زۀ په دے شته جهان کښ ستا خیال له جهان غواړم

بیړئے منم بندے ولاړے دی دَ ژوند په ګودر
خو یو رنړا په ناممکن کښ دَ امکان غواړم

څۀ دی حالات، زړۀ ډوبے ډوبے تورے تورے تیارے
بریښنا بریښنا جبین دَ خپل ماه تابان غواړم

ستا دَ **سائل** شاعری رنګ ستا دَ تصویر دَ سترګو
په آئینه کښ دِ سنګار دَ خپل ارمان غواړم

❀❀❀

زمـا نـه مینـه واخلـۀ غـاړه واخلـۀ
هـر خـوا چـه ځـے درسـره دواړه واخلۀ

ماسره هیڅ نشته بیا هم څۀ چه دی
جانانـــه دا درســـره واړه واخلـــۀ
پریـږده بـنګلے او دَ بنګلـو ګلونـه
دَ محبـت دنیـا ویجـاړه واخلـۀ
ژبـه دَ سـترګو دَ خبـرو زده کـۀ
سـلام پـه منـډه پـه ولاړه واخلـۀ
نـن ئـے پـه دے ټپـه کښ اوے راتـه
پـه اجـاره دَ ګـودر غـاړه واخلـۀ
پـردی ګلونـه ګلشـنونه پریـږده
مـزه دَ خپـل وطـن دَ کـاړه واخلـۀ
پـه پـردو شـونډو تنـده نـۀ مـاتیږی
بوسـه د دے شـونډو دَ پـاړه واخلـۀ

کلـه خـو تـۀ هـم لګـے شـونډے سـپړه
سائله څۀ چه غـواړے غـواړه واخلۀ

۱۴م مئ ۲۰۱۲ء په لاره لاره

اولس جانان کۀ نو دَ ټول اولس جانان به شے
راشه پخپله خاوره اودریږه آسمان به شے

دَ ژوند په شور کښ ځنے ځنے آوازونه اوره
کۀ ناست ئے پا به څے کۀ پاځیدے روان به شے

په تنهایئے کښ وی بے دره بے د یاره سړے
دَ زړونو کور کلی له راشه نو ودان به شے

ستوری خالونه په تندو کۀ دَ وطن دَ ښکلو
تیرے دِ نۀ شی پټولے چراغان به شے

دَ پردی سوری نه پخپلو سرو غرمو کښ ښه ئے
دلته به ډیر ګران ئے کۀ هلته شوے ارزان به شے

دَ خپل پرهر دَ درد دَ سرو ګلونو ژبه زده کۀ
ګل به پخپله شے دَ ګل دَ خاندان به شے

ماتول هیڅ نۀ دی مشکل دَ نفرتونو پولے
دَ مینے لار واخلۀ یقین بہ شے ایمان بہ شے

بیا بہ تمبیرې دَ پلکونو ګزارونہ درنہ
دَ ستمګرو مینہ اوکہ نو سندان بہ شے

ئے خو افغان خو دَ دے خپل نوم نہ بګنیږے ولے
پہ آئینہ کښ ځان تہ اوګورہ افغان بہ شے

تۀ چہ ازغے ئے نو ازغے خو دَ ګل کار نۀ کوی
دَ ګلو تخم شہ نو ګل او ګلستان بہ شے

سترګے پیدا کۀ دَ ژوندون دَ حقیقت لیدو لہ
تۀ کۀ تیارۀ هم ئے دَ نمر غوندے روښان بہ شے

یا بنجارے شہ یا ملنګ دَ پښتنو دَ کوڅو
سائله دا اعزاز حاصل کۀ شاہ جهان بہ شے



دَ ژوند په دار د اودرولے یم پښتون ارمانه
په دے قاتل قاتل ماحول کښ دَ ژوندون ارمانه

پرون دِ هم تنئ تنئ ګریوان ؤ پروت په سینه
نن دِ هم سرۂ سینه په وینو دَ پرون ارمانه

هر څوک د هر راتوکیدلی ګل ته اور لګوی
دَ پښتنو دَ زرغون شوی سباوون ارمانه

دَ دے دنیا دَ شب پرستو ډله لویه شوله
دَ هر طرف نه ستا په خونه دے شب خون ارمانه

زۂ ئے په زړۂ پورے نیولے وړم اودریږمه نۂ
حالات زما نه جذبه تروړی دَ بدلون ارمانه

په زړۂ مِ داغ اوسه مسکے اوسه چه مړاوے نۂ شے
لکه ریدے مِ کړلے لوئے په ځیګر خون ارمانه

شپه بلا لویه ده، بلا مزل په سر پاتے دے
شوګیروم دے دَ خوبونو په زنګون ارمانه

سترګو مِ هم دا دی په وینو سرے جامے اغوستی
زما په خپلو پاکو وینو کښ ګلګون ارمانه

غږ مِ زخمی دے خو چه ورک قام به ئے واوری کۀ نۀ
زما په زړۀ کښ دَ تړون او دَ پاڅون ارمانه

دَ پیر روښان، دَ خوشحال خان، دَ باچا خان په خاطر
مالـه جذبه راکه دِ نوی زړۀ چاؤدون ارمانه

یوه ټپه مِ کۀ خو هر غوږ ته مِ اورسوه
زما دَ خپل لیلے لیلے وطن مجنون ارمانه

بیرته به راشم ستا **سائل** به تاته اوسپارمه
ورک یم په ځان پسے دَ خپل ځان په لټون ارمانه

❀❀❀

زما دَ ژوند تصویر په خپل زړۀ کښ سنبال ساتۀ
ډیر مِ وارۀ دی ارمانونه لګ پرے خیال ساتۀ

رنګ او رنړا ورله زما دَ زړۀ دَ داغه اخلۀ
دے لاله زار له چه راځے په جبین خال ساته
کۀ په غرمو کۀ په لمبو کښ وی دَ مینے خیاله
دَ انتظار سوے دَ جانان پورے اټال ساتۀ
تیره وی ډیر دَ نالیدلو ازغو پټ درډونه
لرے په خیال ګوتے دَ ګلو په دیوال ساتۀ
کۀ لاله زار شی کۀ سالو سالو دَ زړۀ دشتونه
دسمالے کیږی پرهرونو له دسمال ساتۀ
ډیر وی درانۀ پردی رازونه پخپل زړۀ ګرځول
کۀ په همراز یقین لرلے شے همخیال ساتۀ
جان بے ابرو دِ نۀ کړی، دا دَ نن ګستاخے سیلئے
په ډیر هنر ګورئے عظمت دَ خپل جمال ساتۀ

سائله مۀ زانګه دَ دے جواب دَ طمعے په ټال
خو تۀ په خپلو لیونو سرګو کښ سوال ساتۀ

سازونه چه غمژن شی او غمژنے شی سندرے
په زړونو باندے اولګی شتهٔ منے شی سندرے

ورتے چه شی دَ هجر په ورتو ورتو لمبو کښ
نور خلک په درد پوئے کړی چه درمنے شی سندرے

څهٔ ډیر دَ ځان ځانئے دَ کفر دور شو ملګرو
په داسے وخت کښ غټے پیرزوینے شی سندرے

آخر مونږه به ځان ځان ته په کومو سترګو ګورو
زمونږ نه چه په سرو اوښکو پښتنے شی سندرے

مونږ ټول چه هم دَ مینے هم سندرے قاتلان یو
محسوس به ئے کړو څنګه کهٔ غوښتنے شی سندرے

سائله ژوندون ګران شی په هغے کلی محلت کښ
په کوم کلی محلت کښ چه دشمنے شی سندرے

❀❀❀

ورانے مِ پہ مخ دَ اوښکو لارے کړی او لاړۀ شی
خورِ زړۀ مِ پہ مړو بنړو نو کارے کړی او لاړۀ شی

راشی حوالہ مِ خبر لوڅے تنہایئے تہ کړی
ناستے پہ بتکی کوترے پارے کړی او لاړۀ شی
راشی او دَ لیچو نہ ګجرے دَ ګلو اوباسی
ماتہ ئے جولئے تہ راګزارے کړی او لاړۀ شی
راشی او دَ قہر نہ پہ مخ زلفے راڅنډ وہی
نوے زولنے راتہ تیارے کړی او لاړۀ شی
راشی او دَ سترګو ریدی ګلی مِ پہ زړۀ کیدی
سترګے مِ نرګس ہسے بیمارے کړی او لاړۀ شی
راشی او وسعت رالہ پیدا پہ فاصلو کښ کړی
ټولے خوش فہمۍ رالہ ہوښیارے کړی او لاړۀ شی
راشی او راخ مِ کړی پہ چاؤدو شوندو اور نظر
خپلے لیونئے سترګے خمارے کړی او لاړۀ شی

راشی دَ **سائل** دَ زړۀ پولئے پہ تق تق ماتے کړی
خوب وړے جذبے ورتہ بیدارے کړی او لاړۀ شی

❀❀❀

داؤ دِ کړم په یو نظر زړګیه جوارګره
یه زما مئینه لیونیه جوارګره

اوبائله تصویر خو تصور ئے رانه مۀ بائیلۀ
یه په جوارئے ناسته لالیه جوارګره
نن دِ بیا په پیغلو امانی ګلونه اوشیندل
یه زما دَ دشتو پسرلیه جوارګره
سپارے محبت دَ محبت په دشمنانو
یه زما سادۀ سادۀ ځلمیه جوارګره
تش په لنګ کښ بس کۀ نو هم پاتے به سړے شے
دومره خو کولے شے سړیه جوارګره
څۀ نه څۀ خو مونږ ته هم دَ ژوند رنګونه پریدۀ
یه دَ ژوندون رنګه ګلالیه جوارګره

تۀ چه هر څۀ ئے دَ خپل **سائل** سترګو کښ اوسه
یه زما قاتله یه زړګیه جوارګره

❀❀❀

دَ ماشومانو سندره

مـا ئـے دَ سـتورو نـه پـه زور راتختـولے گـوډئے
یـه زمـا ښکلے گـوډئے، ښکلے گـوډئے ښکلے گـوډئے

مـا لکـه گـل دَ گـل دَ څـانګے شـوکولے گـوډئے
یـه زمـا ښکلے گـوډئے، ښکلے گـوډئے ښکلے گـوډئے

راځـه چـه لـوبے اوکـو دواړه گـوډئے
زار گـوډئے ښکلے گـوډئے
کینـه خونـد نـۀ کـئ پـه ولاړه گـوډئے
زار گـوډئے ښکلے گـوډئے

تـۀ پـرون چرتـه وے دَ چـا سـره وے تلـے گـوډئے
یـه زمـا ښکلے گـوډئے، ښکلے گـوډئے ښکلے گـوډئے

چه زۀ او تۀ وے نور څۀ نۀ وے گـوډئے
زار گـوډئے ښکلے گـوډئے
هر څوک زمونږ په تماشه وے گـوډئے
زار گـوډئے ښکلے گـوډئے

تا شونډے سرے کړے ما دِ سترګے تورولے ګوډئے
یه زما ښکلے ګوډئے، ښکلے ګوډئے ښکلے ګوډئے

زمونږ په چم کښ به وادۂ وی ګوډئے
زار ګوډئے ښکلے ګوډئے
پکښ راغونډ به ټول وارۂ وی ګوډئے
زار ګوډئے ښکلے ګوډئے

ورځو به نکریزے وی وارۂ به ډلے ډلے ګوډئے
یه زما ښکلے ګوډئے، ښکلے ګوډئے ښکلے ګوډئے

په هر طرف به تماشے وی ګوډئے
زار ګوډئے ښکلے ګوډئے
زمونږ جامے به سرے لمبے وی ګوډئے
زار ګوډئے ښکلے ګوډئے

چا به اغوستے غرغرے وی چا بخملے ګوډئے
یه زما ښکلے ګوډئے، ښکلے ګوډئے، ښکلے ګوډئے

څوک به وادۂ، څوک به ودیږی ګوډئے
زار ګوډئے ښکلے ګوډئے

پـکښ بـه لـوئے وادۂ گـډيرې گـودئے
زار گوډئے ښکلے گوډئے

وی بـــه جـــذبے لکـــه لـــولکے الـــوتلے گـــوډئے
يه زما ښکلے گوډئے، ښکلے گوډئے، ښکلے گوډئے

وئ به پـه تمبـل کښ سندرے گوډئے
زار گوډئے ښکلے گوډئے
مئيـــنے جونـــه زور ورے گـــوډئے
زار گوډئے ښکلے گوډئے

وی بـــه چـــاپيره آوازونـــه بلـــے بلـــے گـــوډئے
يه زما ښکلے گوډئے، ښکلے گوډئے، ښکلے گوډئے

په نه خندا کښ دِ په شونډو کښ خندا جوړه کړۀ
ماتــه دِ یــه ښــکلیه ګرانــه خامخــا جــوړه کــړۀ

چـه ستا پـه یـاد کښ زۀ یـوه سـندره هـم اولـیکم
پـه زړۀ کښ وایـم دا خـو مـا نـوے دنیـا جوړه کړۀ
تـا دَ شـپے اوښکے دَ ګلاب پـه مـخ راڅنډ وهلے
تا وے شبنم دے ما ترِ ټول ژوند لـه رنړا جوړه کړۀ
خدائے وو دِ دے دنیا ټرون پـه نوم دَ مینے کړے
چه مینه خلکو تـه شوه خلکو ترِ ګناه جوړه کړۀ
حسن دِ لګ خور وۀ چه زلفے دَ پرے هم خورے کړے
تۀ خو پرے لوبے کوے مالـه دِ سودا جوړه کړۀ
دا زلزلـه راغلـۀ کـۀ سـتا دَ خپـو ښـکالو اورمـه
یــره دا ولــے مِ بــے واره زړۀ درزا جــوړه کــړۀ

تـا شـائد هـر چاتـه پـه دغسـے نظـر ورکتـل
ستا دا کتـل څـۀ وۀ **سـائل** ترِ تمنـا جـوړه کړۀ

❀❀❀

تـۀ ځـان لـه تماشـه وے دَ ګلونـو پـه جـامو کښ
زۀ ځـان لـه وؤم ګـلاب دَ پرهرونـو پـه جـامو کښ

ستا یاد دَ سرو لمبو، سرو غرغنډو مازیګرے وؤ
مـا کـړے انتظـار وؤ دَ اورونـو پـه جـامو کښ

تـل وړی، زمـا دَ ویخـو ویخـو سترګو نـه خوبونـه
سـتا سـترګے خوبـولے دَ خوبونـو پـه جـامو کښ

زمـا او سـتا دَ مینـے لیـونئے سـندرے غـواړی
سـپرلے دَ فطرتونـو دَ رنګونـو پـه جـامو کښ

زۀ مست لکه "ریدے" یم دَ داغونو په جامو کښ
تـۀ خـوب لکـه دَ ګـل ئـے دَ خـالونو پـه جـامو کښ

تـا وے راتـه **سـائله** دا تـۀ چرتـه رانـه ورک شے
مـا تـۀ سـنګارولے دَ خیـالونو پـه جـامو کښ

جون ۲۰۱۲ء

خدایـه چـه نـن خـو مِ دَ چرتـه نـه جانـان راولـے
چـه جانـان راشـی پـه شـبو شـبو بـاران راولـے

چه نمر سپورمئ هم ورله لوبو له راتلۀ اوغـواړی
خدایـه څـۀ داسـے پسـرلے پـه ګلسـتان راولـے
چـه ځـان لـه ځـان لـه دَ خـالونو نـه رنړا یوسـی
خدایـه زمـونږ محفـل تـه ستوری دَ آسـمان راولـے
هسـے مِ نـه تلـے دَ زخمونـو دَ انګـړ نـه تیـرے
هسـے مِ نـۀ وے چـه زمـا مـاه تابـان راولـے
دَ دے سمسـورو ګـل دامـانو دَ خـاطره بختـه
زمـا حسـرت زمـا ارزو زمـا ارمـان راولـے
زمـا دَ زیـړ رنـګ نـه زمـا جانـان خوندونـه اخلـی
خدایـه پـه دۀ باندے سپرلے پـه مـا خـزان راولـے

سـائل خـو مینـه دَ نفـرت دَپـاره نـه وه کـړے
خدایـه پـه هغـو شـونډو هـم چرتـه قربـان راولـے

❀❀❀

جانان په یو لاس کښ لمبه په بل کښ ګل راکوی
ما ترِ قربان کے چه رنګونه دَ غزل راکوی

نور به په لار دَ زړۀ دَ وینو څاڅکی نۀ شمارمه
چه دَ بنړو په څوکو ننښه دَ منزل راکوی
ما لکه ګل لوبے دَ زړۀ په پرهرونو کړی
جانان به ماله خامخا ځائے په وربل راکوی
وا به ئے نۀ خلم زۀ دَ خپل ارمان جذبه پیژنم
کۀ څوک جنت دَ یار دَ سترګو په بدل راکوی
دَ اوښکو رنګ دَ زړۀ په وینو کښ ګډوډ ورکوؤم
بیا به څۀ وائے چه تصویر نامکمل راکوی
سترګے ئے بیرته په هغے ګوټ پیر راواړولے
یو داغ دَ خوګ زړګی دَ داغ دَ پاسه بل راکوی

سائله ځان آزادول ترِ لوبے توقے نۀ دی
دَ زلفو هر ول ئے زما مرئے له ول راکوی

❀❀❀

چه دلداری زدۀ کوؤم غیږے دَ دلبر لـه راشم
چـه دلبـر سـتایمه دَ خپـل غـزل هنـر لـه راشـم

لکـه دَ درد دَ خپـل پرهـر دَ غیـږے والوزمـه
حالات مِ ژوبل کړی په بیرتـه خپـل پرهر لـه راشم
لکـه دَ نمـر ورپسـے ټولـه ورځ دنیـا چـړ کړمـه
خو چه زیږے مازیګرے شمه ګودر لـه راشـم
چه دَ حالاتو سره نوی جنګ تـه ځـان جوړوؤم
ستا دے قاتل قاتل کاواک کاواک نظر لـه راشـم
لکه دَ شور دَ خاموشئے شونډو کښ نۀ ځـائیږم
زۀ دَ ژوندون دَ پاره ستا دَ شونډو شر لـه راشـم
لکه ګلاب پـه اوښکو اوینځم بیـدار زخمونـه
چـه تصـور دَ خپـل اودۀ اودۀ سـحر لـه راشـم
دَ خیـال مارغـۀ یمـه لمبـو پـه سـر اخسـتے یمـه
چه کوم چنار له دَ وطن کوم یـو ننبسـتر لـه راشـم

چه ستا نه بیل یمه **سائل** یم لکه خاورے ایرے
شمه باچا چه ستا کوڅے له او ستا در لـه راشـم

❀❀❀

داسے مِ کلک پہ زړګی لیک دے دَ جانان تصویر
زړۂ بہ مِ وران شی کۂ دَ زړۂ نہ مِ کۂ وران تصویر

زړګی مِ وانۂ خستو شکل دَ یقین دَ تصویر
چہ ستا دَ زړۂ نہ مِ وران نۂ کړو دَ ګمان تصویر

ځان تہ حیران یمہ، چہ زۂ ځان تہ حیران ولے یم
ماتہ دی داسے راکتلی ستا حیران تصویر

پہ لاس کښ نۂ راځی پہ څۂ هنر ئے لاس تہ کړمہ
داسے مِ تار تار دے دَ تار پہ تار ګریوان تصویر

پہ دے لمبہ لمبہ منظر کښ مِ اور اور سترګو تہ
څومرہ حسین ښکاری دَ ګلو دَ باران تصویر

چہ ئے جنون ستا دَ نظر راتولولے نۂ شی
تا خپل **سائل** کۂ یارہ داسے پریشان تصویر

دا دَ سائل زړۀ دے په دے کښ به لمبے هم وی
په دے لمبو کښ به جانان جانان سپرلے هم وی

خدایه په هر ځائے کښ دَ سکنړو ښکلو تخم ډیر کړے
چه دَ هر چا په دیوال یو نیم کشمالے هم وی
ستا په اقرار کښ دے انکار او په انکار کښ اقرار
ما اوریدلی چه دَ ګل سره ازغے هم وی
زړونه بائیلل اسان دی زړونه ګټل ډیر ګران دی
دَ محبت په جوارئے ناست لیونے هم وی
هجر کافر مسلمانئے ته ښکلی هم نۀ پریږدی
دَ جانان ګل شونډو نیولے یو پترے هم وی
ماته حیران حیران زیر زیر وارخطا ولے ګورے
چه باران نۀ کیږی نو مړاوے منجرے هم وی

سائله ګل دَ مینے صرف په رښتیاؤ پائی
په تصویرونو کښ خو رقص هم وی نغمے هم وی

۸م جولائی ۲۰۱۲ء

دَ زړۂ بـازار مِ غوړیـدلے هـم دے وران هـم دے
چه بے جانانـه دے سپرلے هم دے خزان هم دے

حسن خور وؤر دے چرته چرته پسے منډه اوکړم
حیـران ولاړ روح مِ ولاړ هـم دے روان هـم دے
زۂ ستا آواز اورمـه درځـم خـو آخـر چرتـه درشـم
چـاپیره ټکنـړه غرمـه ده بیابـان هـم دے
دا راتـه چـا اوکاتـۂ دا سـالو دَ چـا ښکاره شـو
دا چه پـه هـر طـرف لمبے هـم دی بـاران هـم دے
موندے هیچا نۂ دے په دے بے قرارئے کښ قرار
کۂ محبت دَ ژوند حاصل دے نو ارمان هم دے
دَ دے معیار کۂ دے نو دے ښکلا ښکلا او مینه
دلته کښ هر څوک ملنګ هم دے شاه جهان هم دے
دَ پښتنو مئینو خپل خواګۂ دی خپل درانۂ دی
دلتـه هـر څـوک بـلا هوښیار بـلا نـادان هـم دے

سائل ته صرف څوک پـه سترګه دَ سائل مۂ ګورئے
سائل سائل دے خو دَ ډیرو زړونو خان هم دے

۱۲م جولائی ۲۰۱۲ء

ستا دَ خال شغله شغله رنړا دَ قیامتونو وه
ستا هره وړۀ لویه ادا دَ قیامتونو وه

خپله ستا دَ زړۀ درزا به څنګ تصویر کومه زۀ
ستا خو دَ تصویر دَ زړۀ درزا دَ قیامتونو وه
نن دِ دَ جبین نه زلفے یو خوا بل خوا شوے وے
نن خو په وریځو کښ بریښنا دَ قیامتونو وه
تۀ خو سپرلی وچ په زور واپس راستنولے شے
ستا خو په خبرو کښ خندا دَ قیامتونو وه
ځان ته چه مِ اوکاتۀ خپل ځان راسره هم نۀ وؤ
ستا دَ محبت دَ غم سودا دَ قیامتونو وه
وؤ به په دنیا کښ به هم ښکلی وؤ ښائست به وؤ
وؤ خو په دے باب کښ پښتونخوا دَ قیامتونو وه

یه **سائله** دا سپرلے او دا مینه او دا جانان
خور پرے لاله زار څۀ وؤ صحرا دَ قیامتونو وه

یکم جولائی ۲۰۱۲ء

لـګ دَ ګـزارے لـګ دَ ګـزران شـه جانانـه
بـس دے کنـه اوس خـو مِ جانـان شـه جانانـه

ګرانـه بـه شـی ګرانـه دَ جذبو نـه مِ ګرانیږه مـۀ
ډیـر دَ ګرانیـدو نـۀ یـم اسـان شـه جانانـه
ستا دَ یاد ګلونه مِ دَ زړۀ په دشت کښ اوچ نۀ شی
بیـا پـرے پـه شـبو شـبو بـاران شـه جانانـه
مړ مِ کۀ خو سترګے کۀ په تلو کښ راستنے لږے
نـن خـو پـه مـا دومـره مهربـان شـه جانانـه
ګل چه کوم ارمان شی په ارمـان دَ ریژولـو وی
تـۀ مِ ګـل دَ میـنے دَ ارمـان شـه جانانـه
تۀ لکه سپوږمئ زمـا دَ زړۀ زمکے لـه راشـه نـن
تـۀ زمـا پـه سـر بانـدے آسـمان شـه جانانـه
کله څاڅکی څاڅکی کله شړق کږے وږے شبے
هـر چرتـه چـه ئـے نـو راروان شـه جانانـه

راؤړه دَ خپـل زړۀ درزا زمـا دَ زړۀ درزا لـه نـن
راشـه دَ **سـائل** دَ ژونـد داسـتان شـه جانانـه

۲م اګست ۲۰۱۲ء

مونږ دَ سپرلی ذکر په ژبه دَ جانان کوؤ
لکه شبنم په ګل کښ وریت ژوند دَ هجران کوؤ

مونږه په هر موسم کښ بے جانانه نشت نیمګړی
مونږه په هر موسم کښ دغه یو ارمان کوؤ

صبا له بیا مو دَ وصال دَ شپے دَ یاد نیټه ده
صبا به ټوله شپه دَ اوښکو چراغان کوؤ

یو امتحان ختم کړو بل لا ختم شوے نۀ وی
تیارے هره ورځ دَ نوی امتحان کوؤ

دَ دشت دَ ګل تنده به ماته کړو دَ زړۀ په وینو
څو به په خواره خولۀ سوالونه دَ باران کوؤ

بـل شـان خـو وی دَ پښـتونخوا دَ مئینـانو مینـے
اوسـو پـه زمکـه دیدنونـه پـه آسـمان کـوؤ

حسن او ژوند ، مینه او درد مو دَ یو لاس ګوتے دی
سـودا دَ درد هـم دَ ګلونـو پـه دکـان کـوؤ

مـونږه دَ زړونـو پـه انګنړ کښ پـه غمژنـو نغمـو
مـونږه پـه زړونـو باندے چـور کـوؤ تـالان کـوؤ

مـونږه دَ فـن دَ تصـویرونو دَ دنیـا خلـک یـو
سـائله مـونږ دَ خیـال پـه ګوتـو کښ ګزران کـوؤ

❀❀❀



دَ ګل خندا او کۀ دَ ګل په شان ژوندون په کار دے
زړۀ سلامت ښۀ دے کۀ داسے زړۀ چاؤدون په کار دے

ښکلی بلا دی خو دَ مینے پښتو نۀ پیژنی
دَ مینے یو جانان په کار دے خو پښتون په کار دے

زما دَ دے جذبے عنوان په کار دے رنګ او تصویر
دَ دے دنیا رنګ ستا دَ سترګو په مضمون په کار دے

تش سکون بے، بے قرارئے نه یو بیمار ټکے وی
دَ بے قراره زړۀ په غیږه کښ سکون په کار دے

صبا مِ خود شته چه مِ نن هم شته پرون مِ هم وؤ
زما صبا او زما نن لکه پرون په کار دے

زما وطن زما جهان لکه سادر دَ سپرلی
ستا دَ سالو غوندے ستا ګل بدن ګلګون په کار دے

دواړه جهانه راته ښکاری په دے دوؤ سترګو کښ
لکه دَ کونډے ورته نر غوندے کونتون په کار دے

چه کړی زما افکار زما دَ ژوندانه سندرے
ماله زما دَ خپلے ژبے افلاطون په کار دے

ډیر دی لنډ پاری دی بے کاره دَ بدلون خیالونه
کۀ بدلون حق وی په خیالونو کښ بدلون په کار دے

دا انتشار او په جذبو کښ تضادات دَ څۀ دی
دا مونږ ته وائی په صفونو کښ سمون په کار دے

مینه درخو، مینه شیرینه او لیلےٰ په کار ده
مئین آدم، مئین فرهاد، مئین مجنون په کار دے

خو یه **سائله** څوک به تاله درکړی تار دَ زلفو
په دغے تار دَ لیونو زړونو ترون په کار دے

❀❀❀

نمر به په یو لاس کښ په بل کښ به سپورمئے درکوؤم
ویریږه مهٔ جنون دَ نوے زنده ګئے درکوؤم

تهٔ دَ آسمان دَ تال اووهٔ لړونه لاسو ته کهٔ
زهٔ به شغرب او دَ مغرب پورے تالئے درکوؤم

ستا هوښیارئے راته راکړے سړیتوب دَ مینے
خو زهٔ دَ دے نه لګ سبق دَ نادانئے درکوؤم

تا دړے وړے کړهٔ په یو نظر کتو آئینه
زیاتے کوؤم چه تاته نوم دَ ښاپیرئے درکوؤم

هغے "آدم" نغمه نغمه کهٔ تا فرهاد لیونے
شرینے تاله به تصویر دَ درخانئے درکوؤم

عشق راته وے یوه تحفه کهٔ زما هم قبوله
خوب په څنګل دَ شوګیرو دلئے دلئے درکوؤم

خال ئے پہ منځ دَ وریځو ګډم دَ زړۂ دَ ترمو وینو
زۀ غازه نۀ درکوؤم حسن دَ هستئے درکوؤم

تۀ چه تر څو دَ سقراط غوندے خبرے کوے
زۀ به تر هغے دَ ترښو زهرو پیالئے درکوؤم

دَ برښو ویش چه چا کوؤ هغه هم دغسے وؤ
تۀ راکوه غمونه زۀ به خوشحالئے درکوؤم

نن چه دِ لاس راکۀ او ما درنه لاس اوتختوؤ
ما وے خوګیږمه چه لاس پولئے پولئے درکوؤم

ماته خو ستا دَ دلبرئے هنر نیمګړے ښکاری
زۀ به هنر تاته دَ نوے دلدارئے درکوؤم

په زړۂ دِ وران مۀ شه تصویر دَ پسرلی **سائله**
په تبسم به اشارے کلئے کلئے درکوؤم

❀❀❀



ګلاب ګلاب دِ کړم ګلاب دِ راکۀ
سوال مِ په زړۀ تیر شۀ جواب دِ راکۀ

زۀ دَ حساب په مضمون نۀ پوهیدم
تا ترِ حساب لر کۀ کتاب دِ راکۀ
تۀ په سندره کښ سلګو اونیوے
مالـه دِ درد راکۀ رباب دِ راکۀ
سین سیلاب مینه ترڅیدلے هجر
سراب دِ راکۀ خو دریاب دِ راکۀ
دا خو مِ لا ترِ شوند و اور واخستو
ما خو وے جام دَ مئینو تاب دِ راکۀ
دَ پریشانو زلفو خیال دِ راکۀ
خیال کۀ دِ راکۀ پیچ و تاب دِ راکۀ

دریاب دریاب دِ کړے **سائل** ته سترګے
دریاب دِ راکۀ خو غرقاب دِ راکۀ



زړهٔ ته

مـــا درتـــه وے زمـــا شـــاعر زړګیـــه
چـه نـهٔ ځـو نـهٔ ځـو دغـے ښـار تـه نـهٔ ځـو
څـهٔ بـه تـهٔ سـوزے څـهٔ بـه زهٔ سـوزمه
دغـے لمبـو دغـے انګـار تـه نـهٔ ځـو

خـو تـا بـه وے دا دَ ګلونـو ښـار دے
دا دَ وګمـــو او دَ رنګونـــو ښـــار دے
دلتـه دمـه اوخـوری هـر سـترے نظـر
دا دَ خوګـو خوګـو خوبونـو ښـار دے

دلتـــه دَ زړهٔ دَ داغ پـــه ګـــل وریـــږی
دَ پاغونـــدو هســـے شـــبنم دَ جمـــال
دلتـــه کښ هـــر نظـــر دَ میـــنے تحفـــه
دلتـــه کښ دم دلتـــه قـــدم دَ جمـــال

اوس مِ پـه ځـان کښ رانغښـتلے نـهٔ شـے
اوس رالـــه اوښـــکے پـــاکولے نـــهٔ شـــے



تاتـــه مِ کولـــه یـــو خبـــره رانـــه هیـــره شـــوه
دا لکـه چـه جنـګ لـه تلمـه زغـره رانـه هیـره شـوه

مـال نـوی جهـان تـه بیـا دَ نـوے مینے غـګ کـوؤ
دشـتے تـه چـه لاړمـه سـندره رانـه هیـره شـوه

مـا هـم دَ وړو سـره کـوتره خپلـه پـارۀ کـړه
درز مِ زړۀ نـارے کـۀ بـازیګره رانـه هیـره شـوه

داسے ستا دَ ژوند پـه لیـونئے قصـه کښ ورک شومه
خپلـه لیـونئے قصـه دَ سـرۀ رانـه هیـره شـوه

ستا دَ خبرلوس یاد دَ موسکی موسکی تصویر نه زار
شـپه لکـه بـلا وه تـر سـحره رانـه هیـره شـوه

ستا **سائل** چه اوچ پاړونه ستا پـه شونډو اولیدل
خپلـه لیـونئے تبـه شـیبره رانـه هیـره شـوه

غیږے ورکوی مئین پہ دے ورځ دَ سحر نہ پس
خلک پہ دیوال اولی نکریزے دَ اختر نہ پس

څنګہ شی قلارہ قلاری څنګ تماشے خورے
څنګہ خاموشی شی پہ ګودر دَ مازیګر نہ پس

اوس مِ دَ فطرت دَ طبیعت نہ حیرانی نۂ ځی
ستا دَ هغے یو ماشوم حیران حیران نظر نہ پس

هغسے کاتۂ هغسے نوے لیونئ سترګے
درد مِ کوو ستا دَ بنړو ذکر دَ پرهر نہ پس

هیڅ پکښ جوړ ستا دَ غلا کولو دَ معیار نۂ وؤ
رانغلے دننہ زما زړۂ تہ دَ کنډر نہ پس

رنګ خو دَ محفل هغہ دوہ سترګے وی چہ دا نۂ وی
خوند بہ دَ محفل څۂ وی **سائله** دَ دلبر نہ پس

❀❀❀



دلته په هر ګوټ پیر کښ یو نۀ یو قاتل ولاړ دے
هغلته دلته، دلته هلته عزرائیل ولاړ دے

هیڅ شے رپ نۀ وهی کۀ باد ؤ کۀ باران اودریدو
کۀ سمندر دے کۀ دریاب کۀ رودنیل ولاړ دے
دَ ژوندون هره لاره یو نۀ یو ګنړکپ نیولے
دَ کار په هره دروازه کښ یو جاهل ولاړ دے
ناویشتی خلک هم ترڅ پرڅ کوی ټوپونه وهی
هر چاته خپل احساس په مثل دَ بسمل ولاړ دے
لاس په موټئے، موټے ئے تش چه کری څۀ اوکری
قلبه ولاړه ده، دهقان حیران په کل ولاړ دے
ځان دَ هر چانه داسے تښتی لکه سیورے دَ ځان
هر څوک دَ ځان سره په فکر کښ واصل ولاړ دے

دَ خاموشئے دَ تورے شپے دَ سر نشه ماتوی
دَ تنهایئے دَ شپے په کومی کښ **سائل** ولاړ دے



محمد یار یار ته

زمـــا شـــاعره لیونیـــه خطـــا کـــاره یـــاره
دَ خـپلے رائـے پـه ګناه بانـدے سنګسـاره یـاره
تـۀ پـه انکـار کښ بوسـه اخلـے دَ اقـراره یـاره
ځـار شـمه ځـار سـتا دَ سـاده سـاده انکـاره یـاره
یـه دَ تـازه تـازه جمهـور ړومبـی ړومبـی شـهیده
سـتا بـے بهـا وینـه بـه نـۀ ځـی بـے بهـاره یـاره
تـۀ ځـان پـه یـو قـدم تـر عرشـه پـورے مـۀ رسـوه
کینـــه قـــلار دَ درویشـــانو دَ رفتـــاره یـــاره
مـونږ کـۀ دَ اوښـکو، کـۀ دَ ګلـو امیلونـو یوسـو
تـــش بـــه راځـــو دَ جـــاګیرونو دَ بـــازاره یـــاره
شـائد چـه تـا بـه لا تراوسـه اوریـدلی نـۀ وی
دَ لویـــو لویـــه وی دَ خـــوارو برخـــه خـــواره یـــاره
تـۀ دَ خوارانـو برخـے ژاړے دَ خوارئ پـه وخت کښ
خلـک خـو وائـی، وی دَ خـوارو برخـه خـواره یـاره
دغـه ګنـاه هـم ناکـافی ګنـاه خـو نـۀ ده کنـه؟
چـــه دِ عـــاجزه نـــۀ وه ژبـــه دَ اظهـــاره یـــاره

یــه دَ هیــواد دَ ویــنے تــړم او تــازه څاځکیــه
شائد سمسور شی ستا سنسار ستا دَ سنګساره یاره

تــا کــۀ ګټلــی نــۀ دی هــیڅ هغــه بــائللے نــۀ ئــے
چه پــه خپــل قــام کښ سړے پریــوزی دَ اتباره یاره

مونږ څۀ په ګرانه ځان دَ خلکو پــه قطار کښ ځائے کړو
خلــک مــو څــۀ اســان بهــر کــړی دَ قطــاره یــاره

دا لارے دغســـے دی دا لارے بـــه دغســـے وی
تــګ هــم پــه دے لارو دے، مــۀ بــدلوه لاره یــاره

مــالوچ راوړه خــو دَ بــولۀ وختونــه مــۀ هیــروه
دَ خپــل ښائســته یوسـف دَ حســن خریــداره یــاره

دا دَ پیــړو قیصے پــه ورځــو شــپو کښ نــۀ سپینیږی
خپــل پیښــور تــه ځــه راځــه دَ کنــدهاره یــاره

تاســره مـــنم دَ لفظونـــو لښـــکرونه شـــته دے
خــو ډیــر ئے مــۀ پریــږده بے واګــو بے مهــاره یــاره

کــار تــه خیالونــه او خیــالونو تــه خپــل کــار اوسپاره
یــه پــه خیــالونو مــزین غنــی ســرداره یــاره

دَ خپــل جانــان وطــن دَ نــوے مــرحلے پــه خــاطر
تــول نظــر واړوه هنــر تــه محمــد یــاره یــاره



کار چه دَ سپرلی هم دَ لمبے شی سړے څۀ اوکړی
زړۀ چه پکښ داغ لکه ریدے شی سړے څۀ اوکړی

ما خو راز دَ مینے پټ دَ ځانه هم ساتلے وؤ
اوښکے چه دَ سترګو نه راتوے شی سړے څۀ اوکړی
ما خو زړۀ په ډیرو پرهرونو کښ هم پټ کۀ خو
شوندے چه پاړ اونیسی پترے شی سړے څۀ اوکړی
نور کۀ راته خپل نۀ وائی حق لری پردے به یم
خپل ځان چه دَ خپل ځانه پردے شی سړے څۀ اوکړی
کرم هم دَ ګل کړے وؤ شوی هم ګلونه وؤ
ګل چه دِ په سترګو کښ ازغے شی سړے څۀ اوکړی
سترګے خو سړے داسے مدام ترلے هم نۀ شی
سترګے چه دَ چا په چا خوګے شی سړے څۀ اوکړی

مونږ خو انتخاب **سائله** کړے وؤ دَ نیغے لار
نیغے نیغے لارے چه کږے شی سړے څۀ اوکړی

۱۱م اپریل ۲۰۱۲ء

اقبال

هغه دَ ژوند په حادثو کښ رالوئے شوے اقبال
هغه دَ ژوند دَ لیونتوب په لمبو سوے اقبال

هسے خو ځوړند ؤ په خپل ډنډر ګلاب دَ پښتو
خو ورته خپل ژوندون کړ ټول لکه ورغوے اقبال

وړے یو فکر یو سودا ؤ اقبال
څومره په یو ځان کښ بلا ؤ اقبال

بلا ذهنونه ئے رنړا اوساتل
څومره روښانه او رنړا ؤ اقبال

دَ ذات په تنګ لوښی کښ نۀ ځائیدۀ
هر چا له څۀ خو دَ دنیا ؤ اقبال

خپلو سلګو ته ئے هم زده کړه پښتو
بهائے نۀ وه بے بها ؤ اقبال

ناست دَ پښتو دَ نوم په ګل خزانه
په غریبئ کښ هم باچا ؤ اقبال

ځان ئے نزدے هم ځان ته پریښے نۀ دے
په مونږ ؤ مړ، زما او ستا ؤ اقبال

هر ذکر فکر کښ ئے غم دَ پښتو
دَ مردان نۀ، دَ پښتونخوا ؤ اقبال

دَ دے نومونو هیڅ کمے نشته دے
خو په دے ټولو کښ یکتا ؤ اقبال

زمونږ په مینه کښ شک هم کیدے شی
خو په رښتیا باندے رښتیا ؤ اقبال

مونږ هم پښتو وایو پښتو زوتوؤ
خو دَ اندیش غوندے جدا ؤ اقبال

ځوک څۀ خبر شو په ما څۀ او په جانان څۀ اوشوُ
زمونږ دَ دواړو دَ شریکے په ارمان څۀ اوشوُ

زما دَ اوښکو شبنمونه پکښ اوسوزیدل
خدائزده زما دَ ګل په لوند شانِ ګریوان څۀ اوشوُ

تنهایئ ستړے کړم کۀ لږ مِ ترِ په پورته یوسی
برېښوکئ څۀ شوے دَ جنون په بیابان څۀ اوشوُ

په دے کوڅو کښ دا زبیرګی او فریادونه ولے
یه لیونو مسیحا څۀ شو ، په درمان څۀ اوشوُ

اوس پکښ نۀ اورم دَ مینے درډیدلے نغمے
زما دَ زړۀ په ژوبل ګلستان څۀ اوشوُ

ډیره موده اوشوه چه ستوری دَ سپوږمئ انګړ ته
لوبو له رانغلۀ، **سائله** په آسمان څۀ اوشوُ

❀❀❀

پسرلے راشی تیر شی، مونږ پکښې دیدار اونۀ کو
ماسره فکر شی چه یو بل ته ازار اونۀ کو

زما او ستا دَ لیونو زړونو شریکه درزا
کۀ مونږ قلاره نۀ کو، مونږ به ترِ قرار اونۀ کو
منګے ئے سر ته کۀ په تلو کښ ئے همزولو ته وے
ګودر به څۀ کو چه دیدن پرے دَ سرکار اونۀ کو
په پولادی غرونو کښ سرو دشتو کښ لارے کوؤ
چه دَ جانان زړګی له راشو په کښ لار اونۀ کو
مونږ هره شپه ستا دَ خالونو ذکر فکر کوؤ
مونږه یوه شپه هم دَ زړۀ په لاله زار اونۀ کو
ستا دَ نظر ستا دَ بنړو دغه بے واره حملے
مونږ به جانانه ستا دَ دے کاره روزګار اونۀ کو

سائله ژوند به څۀ وی خوند به ئے څۀ، رنګ به ئے څۀ
چه په سندره کښ هم ذکر دَ دلدار اونۀ کو

❀❀❀

اوس رانه نۀ ځی نشه، دومره دِ خمار کړمه
په نرګسی بیمارو سترګو دِ بیمار کړمه

لکه ګلاب دَ یار دَ اوښکو په شبنم اودۀ وم
دا سیلئ چرته وه، دَ خوبه ئے بیدار کړمه
تۀ په ځان پویه نۀ شوے، زۀ دِ په ځان پویه نۀ کړم
نادان دِ څومره کړمه، څومره دِ هوښیار کړمه
تۀ دومره زر زر سترګے ولے پټوے غړوے؟
دومره زر څنګ درته دَ زړۀ داغونه شمار کړمه
زلفو دِ نۀ یمه دَ زلفو باد دِ اووهلم
چه باد ئے اووهلم هم ئے تار په تار کړمه
لا خو مِ نۀ وه تصویر کړے ستا دَ حسن قصه
ستا په خالی خاکه هم دے خلکو سنګسار کړمه
ما دِ په کومه بانه کوم لوظ باور اونۀ کۀ
جانانه هره ورځ دِ مړ په انتظار کړمه

جانانه نور به دِ ارمان دَ لونګین اورژی
چه زۀ **سائل** دے دَ لونګو خریدار کړمه

❀❀❀

امن او جنګ

امـــن دَ ســـترګو نظـــر، جنـــګ دَ دے نظـــر قاتـــل دے
جنـــګ دَ ســـحر قاتـــل دے، جنـــګ دَ مـــازیګر قاتـــل دے

زمـــا لکونـــه میانـــدے خوئنـــدے ئـــے بـــے ســـتره کـــړلے
جنـــګ مِ دَ ســـوات قاتـــل دے، جنـــګ دَ پیښـــور قاتـــل دے

امـــن دَ ګـــل دَ خنـــدا غیـــږ ده، دَ ســـپرلی نغمـــه ده
جنـــګ دَ نغمـــے قاتـــل دے، جنـــګ دَ هـــر هنـــر قاتـــل دے

امـــن دَ غرونـــو دَ تـــازه هـــوا دَ لـــپے دعـــا
جنـــګ دَ هـــر غـــر دَ هـــرے ســـروے صـــنوبر قاتـــل دے

امـــن منګـــی پـــه ســـر دَ پیغلـــو دَ قطـــار مصـــور
جنـــګ دَ چیـــنے او دَ چینـــار او دَ ګـــودر قاتـــل دے

امـــن دَ امـــن دَ معنٰـــی او دَ مفهـــوم تصـــویر دے
جنـــګ دَ تصـــویر دَ تصـــور او دَ منظـــر قاتـــل دے

امـــن دَ خـــدائے دَ تمـــامی مخلـــوق دَ ژونـــد ضـــمانت
جنـــګ دَ انســـان دَ کائنـــات او بحـــر و بـــر قاتـــل دے

امـــن ضـــامن دَ هـــر ازاد انســـان دَ علـــم و عمـــل
جنـــگ دَ ازاد انســـان دَ هـــر فکـــر و نظـــر قاتـــل دے

امـــن دَ نمـــر پـــه ځـــاځکی ځـــاځکی پلوشـــو کښ ژونـــدون
جنـــگ دَ رنـــړا دَ پلوشـــو قاتـــل دَ نمـــر قاتـــل دے

امـــن دَ ژونـــد دَ تقاضـــے، ژونـــد دَ بقـــاء نامـــه ده
جنـــگ دَ خپـــل ځـــان او خپـــل انجامـــه بـــے خبـــر قاتـــل دے

امـــن دنیـــا ده دَ خوبـــانو دَ خوبونـــو دَ خیـــال
جنـــگ دَ خوبـــانو دَ خوبونـــو دَ لښـــکر قاتـــل دے

امـــن دَ میـــنے دَ رشـــتے دســـتخط دَ ژونـــد پـــه کاغـــذ
جنـــگ دَ دے میـــنے دَ رشـــتے دَ هـــر بـــاور قاتـــل دے

امـــن زمـــا دَ لـــر و بـــر دَ محبـــت حقیقـــت
جنـــگ مِ دَ ټولـــو پرګنـــو دَ لـــر و بـــر قاتـــل دے

امـــن زمـــا دَ لښـــکرونو دَ شـــعور فلســـفه
جنـــگ مِ دَ امـــن دَ لښـــکر دَ ســـر لښـــکر قاتـــل دے

دَ امـــن ســـترګو کښ جهـــان دَ اطمینـــان او ســـکون
جنـــگ بـــے قـــراره وارخطـــا اوتـــر اوتـــر قاتـــل دے

امـــن عـــالم تـــه غوړیـــدلے دســـترخوان دَ خـــالق
دَ جنـــگ ټول خـــوی بـــوی دَ تخریـــب دے دَ بشـــر قاتـــل دے

امن دَ هر زنده سر ساه ده او دَ سر سیورے دے
جنگ دَ هر قسم زنده سر دَ ساه او سر قاتل دے

امن مرغئ په نغمو راولی دَ خیال په نغمو
جنگ دَ مرغو دَ چغیدو او شور و شر قاتل دے

وار دَ جنگ تیر شو ورکوی به ساه دَ امن غیږ کښ
جنگ کۀ هر څومره ستم گر او زورور قاتل دے

امن دَ رحم دَ حدونو نه بهر نۀ اوځی
جنگ دَ رحمونو دَ حدونو نه بهر قاتل دے

دَ امن غشے به ئے پویه کړی دَ درد په خوږو
جنگ کۀ هر څو لکه سلطان سکندر قاتل دے

جنگ هر څۀ اوخوری، ځان هم اوخوری امن نۀ شی خوړے
جنگ ځان په امن خوری، کۀ هر څومره نهر قاتل دے

امن دایم وی او دَ جنگ عمر دوام نۀ لری
قاتل بزدل وی هیڅوک نۀ وائی چه نر قاتل دے

امن دَ خدائے خوښ دے، دَ خدائے دَ مخلوق ژوند دے امن
جنگ خو وحشی دے، دَ امت دَ پیغمبر قاتل دے

❀❀❀

دَ ژوند سندره

تۀ خو دَ خپل غرور او خپله ضده نۀ اوړیدے
وا دِ وریدے چه دِ زما خبرے نۀ اوریدے

په لمبو واؤړیدے په سرو ګلو راواؤړیدے
تا چه دَ ژوند سندره اوے نو ما واؤریدے



دعا

خدایه په یو لاس کښ سپرلے، بل کښ ګلاب غواړم
داسے په یو لاس کښ قلم، بل کښ کتاب غواړم

ښائست چه چرته دے او څومره دے په زړۀ کښ مِ دے
خو په دے خوښه کښ اختیار دَ انتخاب غواړم

سندره

ښکلی دَ زړونو زړونو لوبے کوی
پـــه زړونـــو لـــوبے کـــوی
لیونی څۀ په لیونو ګلونو لوبے کوی

خدایه دَ مینے په دے ګل هنر کښ څومره څۀ دی
هر څۀ چه دی هغه دَ هر څۀ نه خوارۀ خوارۀ دی
دَ الفتونـــو دَ خوبونـــو تصـــویرونه تراشـــل
پـه کـانو بوټـو دَ ازغـو پـه څوکـو تلـۀ راتلـۀ دی

څوک چه دَ دے غمونو لوبے کوی
پـــه زړونـــو لـــوبے کـــوی
لیونی څۀ په لیونو ګلونو لوبے کوی

خـپلے جـونګړے ورانـوی ترینـه مـانړۀ جـوړوی
دَ ښائسـتونو دَ ګلونـو دَ خوبونـو مـانړۀ
مینے په خیال خیال کښ جهان دَ زندګۍ جوړوی
دَ لازوالـه محبـت، دَ بـے پـروا زنـدګۍ

څۀ دَ عالی خیالونو لوبے کوی
پـــه زړونـــو لـــوبے کـــوی
لیونی څۀ په لیونو ګلونو لوبے کوی

سحر ئے هر سحر دَ ګل او دَ شبنم قصه وی
مـازیګری ئـے دَ دیـدن دَ سـپرلی خوبونـه
دَ سوؤ لـوؤ روایـاتو پاسـداری پـرے کـوی
چه ځی نو وړی ګلونه بیرته ترے راوړی اورونه

دَ خیال په څو رنګونو لوبے کوی
پـــه زړونـــو لـــوبے کـــوی
لیونی څۀ په لیونو ګلونو لوبے کوی

سـائله دلتـه دَ لمحـو پـه تـار تـړلے غـونچے
دَ څـومره ډیـرو دنیاګـانو تصـویرونه لـری
په سترګو سترګو کښ قطره قطره سلام دَ مینے
لمـبے لـری او پـه لمبـو کښ بهارونـه لـری

څوک چه په دے ټالونو لوبے کوی
پـــه زړونـــو لـــوبے کـــوی
لیونی څۀ په لیونو ګلونو لوبے کوی

یو منظر – یو نظاره

ستا یوه ادا وه چه بلا موده پرے تیره شوه
اوس مِ هم په زړۀ باندے پرته ده راته خاندی

ستا دَ خورو زلفو په شا ورک لیونے رونړ جبین
څۀ دَ څوارلسمے سپوږمئ شپه ده راته خاندی





دَ ټولے شپے دَ تنهایئے ښامار خوړلے یمه
نۀ یم خبر سحر ته څنګ رارسیدلے یمه

زۀ لیونے لکه دَ خپل زړګی دَ داغ دَ رنړا
سحر سحر ستا په خالونو څخیدلے یمه
کۀ سیلاب نۀ جوړیدۀ دا اوښکے به چرته تللے
زۀ دَ پیړو نه په دے لارۀ ژړیدلے یمه
حسن پخپله وی مرکز دَ زلزلو حادثو
دلته کښ زۀ دَ حادثو سره راغلے یمه
دلته به تل وی زندګی لکه آواز دَ بنګړو
زۀ دَ ښائست په لیچو داسے شړنګیدلے یمه
اوشوے مودے ځان لتوؤمه ځان مِ اونۀ موندو
خدئے خبر کومو سترګو کوم خوا تښتولے یمه

دا چه دے خور په پښتونخوا ښائست په شان دَ بهار
سائله دا زۀ مینے هر خواته شندلے یمه



سندره

خاورے او ایرے ئے دَ هر ګل په مخ لویدلے دی
دا دَ چا وطن دے، خدایه دا دَ چا وطن؟
ګل ګل سحرونه ئے په وینو لمبیدلی دی
دا دَ چا وطن دے، خدایه دا دَ چا وطن؟

هر ګل ئے په مات ډنډر بے تابه راپریوتے دے
خوږ دے خندیدے نۀ شی
ګرد ئے دَ بارودو په تندی باندے الوتے دے
هیڅا ته کتے نۀ شی

خپل سپرلی پرے هم په اوښکو وینو ژړیدلی دی
دا دَ چا وطن دے، خدایه دا دَ چا وطن؟

هر خوا ئے دَ هر یو ګلاب پانړه پانړه غوڅه ده
هیڅوک ورته نۀ ګوری
خوا کښ ئے دَ هر یو ازغی هره څوکه پڅه ده
هیڅوک ورته نۀ ګوری

نۀ پرے چا نظر کړے نۀ چا ورته کتلی دی
دا دَ چا وطن دے، خدایه دا دَ چا وطن؟

دلته به یو قام ؤ، اوسیدو دَ پښتنو په نوم
څۀ شو هغه چرته لاړ
دلته یو اولس ؤ دَ جمال دَ لیونو په نوم
څۀ شو هغه چرته لاړ

هغه لیونی سپیلنی خلک چرته تلی دی
دا دَ چا وطن دے، خدایه دا دَ چا وطن؟

هغه لیونو چه یو تهذیب او یو تاریخ لرۀ
هغه پښتون چرته لاړ
ژوند کۀ ئے هر څو لکه دَ زهرو په شان تریخ لرۀ
هغه ژوندون چرته لاړ

داسے نو دَ خپل کلی محلت نه چرته تلی دی
دا دَ چا وطن دے، خدایه دا دَ چا وطن؟

❀❀❀

لفظونـه شـته، خـو دَ لفظونـو معـنٰے ورکـے دی
ساقی هم شته، میخانه هم شته پیمانے ورکے دی

شونډے زمونږه هسے تراړے تراړے نۀ دی تلی
زمـونږ دَ شـونډو نـه دَ میـنے تـرانے ورکـے دی
یو په دنیا کښ خو دنیا خو ورکه کړے ده مونږ
زمـونږ دَ سـترګو نـه دَ سـترګو آئیـنے ورکـے دی
خالی تـار پـاتے یـم پـه ګوتـو کښ دَ میـنے دَ خیـال
خدایـه دَ اوښـکو دَ تسـبو نـه مِ دانـے ورکـے دی
سـهر جـادو اوس نـۀ پـه ځـان شـم نـۀ پـه بـل کـولے
مانـه دَ ژونـد دَ تصـویرونو افسـانے ورکـے دی
زما نه ستا په شونډو ستا په جبین ستا په زنه
سـتا دَ سـکنږو سـکنږو خـالونو خزانے ورکـے دی

دا چه په لاره ځی او ځائے په ځائے کینی او پـاځی
سـتا دَ **سـائل** نـه سـتا دَ پلونـو زمـانے ورکـے دی

❀❀❀

دَ دشتے ګل وؤم وچیدم بـه، شبنم نـۀ وؤ بـاران هـم رانغـے
غرقـه زړۀ ډوبے خاموشی وه، چرتـه غـږ دَ جانـان هـم رانغـے

دَ تاخانو په لاندے باندے دیوالونو کښ، ژوندون کوؤم یوازے یمه
کلونـه تیـر شـو زمکـه نـۀ ویـنم، نظـر تـه آسـمان هـم رانغـے

په زړۀ مِ یو تصویر جوړیږی، خو چه جوړ شی نو په خپله وران شی
چه دا دَ کوم ظالم جانان تصویر دے، جوړ نۀ شو وران هم رانغـے

دَ هغے بُت خاموشو شونډو له مِ، تل تل دَ زړۀ ګرمے ګرمے وینے ورکړے
خـو پـه هغـے بُـت کښ دَ نـیم تبسـم، تـوان او ایمـان هـم رانغـے

ستا نه چه بیل شوم نو یوازے شوم، خو داسے خو یوازے نۀ شوم
ستا یـاد کـۀ نـۀ راتـۀ نـو نـۀ بـه راتـۀ، خوالـه ارمـان هـم رانغـے

په نړیدلی زړۀ په اوښکو اوښکو سترګو کښ ملالـه ژړیدلے ارزو
تندر راپـرے نـۀ وت **سائله** زلزلـه نـۀ شوله، ځول او طوفـان هـم رانغـے

❀❀❀

لکـــه یوســـف دَ کړمـــار دِ کـــړم
دَ کړمـــــاره راګـــــزار دِ کـــــړم

زهٔ خو ښکاری وؤمه په ښکار پسے تلم
خبـر دَ ځانـه نـهٔ شـوم ښـکار دِ کـړم

تا خپلے سرے سرے سترګے څهٔ پیژندے
پـــه زړهٔ دننـــه لالـــه زار دِ کـــړم

اور مِ اخســتے دے خــو رپ نــهٔ وهــم
مجســـمه دَ انتظـــار دِ کـــړم

دَ مشـــرق ښـــکلے پښـــتنے مئیـــنے
پویـــه دَ میـــنے پـــه مایـــار دِ کـــړم

موســـم دِ واړوؤ دَ دشـــت پـــه بلـــه
یـــه دَ جانـــان خیالـــه بهـــار دِ کـــړم

هـــر خیـــال دِ څـــو زره تصـــویره لیـــدل
تصـــویر تصـــویر دِ کـــړم بـــازار دِ کـــړم

نور به دِ یو غم هم آزار نۀ کړمه
څۀ بے آزاره پامتدار دِ کړم

په مخه تلے په شاه دِ نۀ راکتل
دا دِ ګل راکۀ، کۀ سنګسار دِ کړم

ستا دَ سرو شونډو نه ئے غلا کړے ده
دَ سرو ګلونو پرستار دِ کړم

په پلوشو مِ هر سحر لمبوے
نمره دَ چا دَ کور چنار دِ کړم

درد مِ دَ هرے فن پارے نه څاڅی
شړل **سائل** وؤمه فنکار دِ کړم



بے عنوانه

ما خو په یو لاس کښ سپرلے بل کښ ګلاب غوښتے وؤ
ژوند مِ جانان جانان دَ شونډو په کتاب غوښتے وؤ

دَ پښتونخوا ښائست چه څومره وؤ په زړهٔ کښ مِ وؤ
خو ما اختیار پکښ دَ زړهٔ دَ انتخاب غوښتے وؤ

څو غلچکو پښتون ارمان دَ مخ مروته زار کړو
ما خو پښتو غوښته پښتو له مِ نصاب غوښتے وؤ

❀❀❀

شپه چه مِ ستا دَ انتظار په بیابان اوکړۀ
دلته مِ سر سنړه دَ مینے دَ ارمان اوکړۀ

سحر دَ خوبه ډکے ډکے سترګے پاسیدمه
سترګو مِ ستا ثناء دَ اوښکو په باران اوکړۀ
تیرے به تورے وی خو ما به آخر څنګ پټوی
دَ بریخ دَ پړق په شان رنړا ماه تان اوکړۀ
سپورمئ په غیږه کښ نن لوبو له دَ ستورو یورم
ما مِ دَ کور دَ انګنړ مینه په آسمان اوکړۀ
چه چرته چرته رقابت وؤ هلته اور اولګید
ما چه خبره دَ خپل ګل غوندے جانان اوکړۀ
په موده پس ئے شونډے پرانستے خندانے شونډے
زما په زړۀ ئے کرونده دَ ګلستان اوکړۀ

خیال دَ جونګړے وی پخپله تاج محل سائله
کۀ تذکره چا دَ میکن او دَ مکان اوکړۀ



ماضی او مستقبل، وطن او قام څلور غمونه
دے ټولو تہ مِ تل لوګے لوګے کړل نور غمونه

کۂ حسن چرته وی چه پرے دَ زلفو سورے اوکی
دَ زړۂ پہ دشت مِ ځی دَ پښتنو سرتور غمونه

راځئے چه پکښ تاب، چه پکښ توان دَ ژوند پیدا کړو
بے تابہ دی زمونږ دَ تالا شوی کور غمونه

سپرلے دِ دَ سرو شوندو دَ خندا پہ شانِ راشی
پشان دِ دَ ګلونو مونږ لہ کړی سمسور غمونه

هم دا ورځ بہ زمونږ دَ ربښتونے آزارئے وی
دَ خپل غمه چه بیل کړو دَ پردو دَ زور غمونه

اے خدایه چه دَ دے نه څو کړی څنګه ستړګے پټے
دَ خپل پلار، خپلے مور، دَ خپلے خور او رور غمونه

جانانه زهٔ او تهٔ ئے څنګ دَ یو بله جدا کړو
حالاتو په مونږ څنګه کړه خپل اور او سکور غمونه

په ستړګو کښ مِ راؤړهٔ تصویرونه دَ خوبونو
جانانه ماله را زما دَ ستړګو تور غمونه

لوګے کهٔ پکښ ځان ته دَ سائل دَ ژوند ګلونه
سائل ته بلوه دَ خپل ښائست دَ اور غمونه

❀❀❀

دَ بخت روان یاد

ملګـــرے وؤ زمـــا بخـــت روان لکـــه جانـــان
پـــه زړۀ مِ راتـــه پـــاتے شـــو ارمـــان لکـــه جانـــان

زۀ پریښودم په نیمه لار کښ څومره څومره خلقو
خو دے خو نۀ وؤ ناست چه شو روان لکه جانان
جـــذبے ئـــے لیـــونئے وے دَ خبـــرو لیـــونے وؤ
محفـــل بـــه ئـــے ســـاتلے وؤ ودان لکـــه جانـــان
معصـــوم وؤ بـــلا وګـــے وؤ دَ میـــنے دَ خبـــرو
هوښیار وؤ خو لیدے به شو نادان لکه جانان
مئـــین وؤ دَ ســـپرلو او دَ ګلونـــو دَ ســـندرو
هر وخت او په هر حال کښ وؤ خندان لکه جانان
په مرګ مِ هم دَ زړۀ نه تلے نۀ دے نۀ به لاړ شی
ګنړلے وؤ مـا هـر کلـه خپـل ځـان لکـه جانـان

څـۀ لـګ مِ راتـول کـړی وؤ دَ زړۀ بـاغی درډونـه
ســائل ئـے کـۀ بـے وختـه پریشـان لکـه جانـان




دَ سائل نور چاپ کتابونه

1. دَ ویر په چم کښ وار دَ نغمو دے	شاعری
2. دَ لمبو په سیوری	شاعری
3. دَ ښائستونو دَ سپرلی بادونه	شاعری
4. دَ وینو رنګ په لمبو څنګه ښکاری؟	شاعری
5. تاله تصویر په ګلاب جوړ کم کۀ نۀ؟	شاعری
6. درد چه دَ څړیکو څانګے وسپړلے	شاعری
7. دَ چینارونو نه لمبے اووتے	شاعری
8. حالات چه اور وروی	شاعری
9. تا به په خپل تصویر کښ څوک ځایوی	شاعری
10. زۀ دَ خزان دَ پانړے پانړے سره اورژیدم	شاعری
11. ستا خبرے دَ سندرو سرنامے دی	شاعری
12. اخری سندره	افسانے
13. دَ باچا خان د افکارو معنوی تصویرونه	نثر
14. غرمے لمبے لمبے	شاعری
15. یه زړۀ ګورئے دلته به ګل نۀ سپړے	شاعری

ناچاپ کتابونه

1. ټپه کۀ ستائینه	نثر
2. هر تصویر زما تصویر	نثر
3. دَ ثقافت تاریخی بنیادونه	نثر
4. په فی المیزان کښ دَ هیواد معنوی اړخونه	نثر



یوه ډیوه یوه شغله وه دَ طوفانه پاتے
بله مِ یوړۂ اشاره وه دَ جانانه پاتے
تۂ وخت په بله یوړے زۂ حالاتو لا په بله
دا څۂ قیامت شو زۂ شوم ستا نه تۂ زما نه پاتے
ناست یم ګنډم پرے ستا زړۂ ریښے ریښے لوپټه
یو څو تارونه مِ راتول کړۂ دَ ګریوانه پاتے
جانانه داسے شوه دَ مینے دَ پښتو قات سالی
زۂ شوم دَ لیک نه پاتے ته شوے دَ عنوانه پاتے
دا په لمبو چه مو هم تنده دَ سپرلی ماتیږی
دا دی رنګونه دَ ګلونو دَ خندا نه پاتے
ستا دَ نظر دَ لاس ګلونه پرے سیراب ساتمه
زۂ یوه اوښکه ستا دَ سترګو دَ بارانه پاتے
چه دَ سائل سندرے وی سپرلی به څنګه نه وی
هر څو کۂ یو رنګ دلته نه دے دَ خزانه پاتے